عمومي مجمع
د امنیت شورا

توزیع: عمومي
مارچ ۵، ۲۰۱۲

اصلي متن: انګریزي

عمومي مجمع
شپږ شپیتمه ناسته
د اجنډا ۳۸ موضوع

د امنیت شورا
شپږشپیتم کال

**وضعیت په افغانستان کې**

**وضعیت په افغانستان کې د او پر نړیوال سولې او امنیت باندي د هغه پایلې**

**د عمومي منشي راپور**

**لومړي: مقدمه**

۱. دغه راپور د عمومي مجمع د ۶۶/۱۳ ګڼې پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۱۹۷۴ (کال ۲۰۱۱) ګڼې پریکړه لیک پر بنسټ ترتیب شوي چې د هغه په ترڅ کې د عمومي منشي څخه غوښتل شوي و چې هر دري میاشتې وروسته په افغانستان کې د بدلونونو په اړوند راپور وړاندي کړي.

۲. دغه راپور زما د پخواني راپور (A/66/604-S/2012/772) چې د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۱۳ نېټه وړاندي شوي و، وروسته موده په افغانستان کې د ملګرو ملتونو تازه فعالیتونه، د مهمو بشري مرستو، پرمختیایي او د بشري حقونو په ګډون، او د افغانستان په اړوند د کلیدي سیاسي او امنېتي بدلونونو لنډیز او همدارنګه سېمه ییز او نړیوال ناستې په اړوند تازه معلومات وړاندي کوي. څلورمه برخه (مشاهدات) په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندوي پلاوي (یوناما) ماموریت او همدارنګه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ملاتړ په اړوند هر اړخیز بیا کتنه وړاندي کوي کوم چې د امنیت شورا د ۲۰۰۱ کال د ۱۹۷۴ ګڼې پریکړه لیک کې د دغه ماموریت د فعالیت بیا کتنه غوښتل شوي و. دغه راپور یوه ضمیمه هم لري چې د امنیت د شورا د ۲۰۰۹ کال د ۱۸۶۸ ګڼه پریکړه لیک پر اساس، زما د ۲۰۱۱ کال د مارچ د میاشتې د ۹ نېټې د A/65/783-S/2011/120) راپور وروسته د مهمو شاخصونو او معیارونو په اړوند د پرمختګ ارزونه کوي.

*د تخنیکي ملحوظات له امله د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۱۵ نېټه یو ځل بیا صادر شو.

## دوهم. اړوند بدلونونه

### الف. سیاسي انکشافات

۳. د راپور په موده کې او د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۵ نېټه د بن د کنفرانس وروسته په افغانستان کې سیاسي بحثونه زیاتره پر دې باندې مرکوز وو چې په څه ډول یوه ښه بلقوه د سولې پروسه تر لاسه شي. په افغانستان او همدارنگه په بهر کې ټول بحثونه پر دې متمرکز وو چې په څه ډول تېري هڅې چې پرې شوي او یا په ټپه دریدلې بیا له سره پیاوړې شي. په ځانگړي ډول دغه بحثونو چې په څه ډول دغه دفتر رامنځته شي تر څو ډیالوگ اسانه شی، او د دغه دفتر پر موقعیت، چې په بلقوه ډول قطروي، پر ټکو باندي حاکم وو.

۴. د سبمر په ۱۵ نېټه د یوه غونډې په ترڅ کې ولسمشر کرزی د ملي مخورو کسانو همغږي شو چې د مخالفو وسله والو کسانو سره د تعامل لپاره یوه عملي میکانیزم ته اړتیا شته، او پر دې هم ټینگار وشو چې د سولې هر ډول پروسه باید د افغانانو په مالکیت تر سره شي. په داسې حال کې چې دوي د طالبانو لپاره د دفتر د خلاصولو څخه ملاتړ څرگند کړل، خو ترجیع ورکړل چې داسې یو دفتر باید په افغانستان، سعودي عرب او یا په ترکیه کې وي. د افغانستان حکومت د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۲۰ نېټه ټولو دیپلوماتیکو ماموریتونو ته یوه ۱۱ ماده ای اعلامیه صادر کړه چې په هغه کې حکومت د دا تعامل لپاره خپل شرایط ذکر او پر دې ټېنگار کړي و چې د تېرو ۱۰ کلونو لاسته راوړنې باید ضایع نشي.

۵. د ۲۰۱۲ کال د جنوري په ۳ نېټه طالبانو ته منسوب شوي یو لیکل شوي اعلامیه خپور شو چې په هغه کې ویل شوي و چې دغه ډله اماده دی چې یو سیاسي دفتر رامنځته کړي تر څو "د نورو ملتونو سره پوهاوي ته ورسېږي." په هغه وینا کې چې ولسمشر کرزی د جنوري په ۲۱ نېټه د ملي شورا دواړو خونو ته وکړه په افغانانو باندي غږ وکړ چې د حکومت سره جگړه پای ته ورسوي او خپلې وسلې پر ځمکه کیږدي. هغه په قطر کې د طالبانو د دفتر د رامنځته کیدو په اړه خپل ملاتړ څرگند او زیاته کړه چې دی ځکه دغه کار کوي تر څو د جگړي د اوږدیدو هره بهانه له منځه یوسې. هغه په تکرار سره وویل چې اړتیا ده تر څو حکومت د سولې د پروسي مشري وکړي او اعلان یې وکړ چې دی په نږدې وخت کې د گلبدین د حزب اسلامي د پلاوي سره کتلې او هیله څرگنده کړ چې دا ډول خبري اتري دوام ومومي. ولسمشر کرزی د فبرورۍ په ۱۵ نېټه رسنیو ته دا خبره تایید کړ چې حکومت د طالبانو سره خبري پیل کړي – چې د ده دغه ادعا د طالبانو له خوا د یوې خپور شوي اعلامیي په ترڅ کې رد شو – او د فبروري په ۲۱ نېټه هغه په قطر کې د طالبانو د دفتر پرانیستل تایید کړ او مکرراً وویل چې د سولې پروسه د حکومت د لومړیتوبونو په سر کې قرار لري.

۶. د فبرورۍ په ۱۷ نېټه د ولسمشر کرزی، ولسمشر احمدي نژاد او ولسمشر زرداري تر منځ دریم درې اړخېزه ناسته په اسلام آباد کې تر سره شوه. د دغې ناستې په نتېجه کې په یوه گډه خپره شوي اعلامیه کې د افغانانو تر مشري لاندي او د دوي په مالکیت د سولې د یو عام شموله پروسې په اړوند د ایران او پاکستان د اسلامي جمهوریتونو بشپړ ملاتړ څرگند شو.

۷. د افغانستان د سولې او بیا ادغام پروګرام، چې د ملګرو ملتونو د پرمختیا پروګرام ملاتړ له ځانه سره لري، پلې کول مخ په وړاندې روان دی. راپورونه داسې ښیي چې د سولې ولایتي کمېټې او ځایي چارواکي، د عنعنوي لویې جرګې وروسته چې د ۲۰۱۱ کال د نومبر په میاشت کې دایر شوي و، خپل عامه فعالیتونه زیات کړي چې دغه ډول هڅې یې پیاوړې کړېدي. د افغانستان د سولې او بیا ادغام د پروګرام د ګډ سکرتریت په وینا د فبروري د میاشتې تر نیمایي پورې ۳۸۲۵ تنه پخواني جنګیالان په رسمي ډول په دغه پروګرام کې ځانونه ثبت کړېدي. راپور ورکړ شوي چې د وسله والو ډلو د استازو سره خبري رواني دي کوم چې د ۸۲۵ تنه نور جنګیالانو څخه استازیتوب کوي، د مصالحې په اوړند خپل لیوالتیا څرګند کړي خو لا تر اوسه د پروسې سره ندې یو ځای شوي. همدارنګه ګډ سکرتریت د داسې غیررسمي کړنو په اړوند راپور ورکړي چې هغه ډلې چې اوس اماده ندې چې د دغه پروګرام سره یو ځای شي، جګړه کې برخه وانخلي. د لومړیو ډلو د بیا ادغام پروګرام چې د کابل او زابل ولایتونو څخه دي او همدارنګه د بادغیس، بغلان او کندهار څخه سترې ډلې، په ځانګړي ډول د پام وړ خبره ده. لومړني راپورونه داسې ښیي چې په هغو سیمو کې چې د بیا ادغام ستر پروګرامونه تر سره شوي، امنیتي وضعیت کې ښه والې راغلې، که څه هم د ډلو د شمېر په اړوند کوم چې د پروګرام له خوا منل شویدي، اندېښنې لا هم شتون لري.

۸. د ۲۰۱۱ کال د سمبر په ۱۹ نېټه، وروسته له هغه چې د ولسمشر کرزی له خوا ونومول شول، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پېنځه غړي تحلیف تر سره کړل. د مومنه یارې او محمد ګُرزیواني د کار مودې بیا تمدید او لاندنې دري تنه کمشنران انتصاب شول: دستګیر آزاد، د نیمروز ولایت پخواني والي، هاشم فولاد د ننګرهار ولایت څخه د ملي شورا غړي او ریدا عظیمی د پروان ولایت څخه پخواني سناتور. د کمیسیون د رئیس فضل احمد معنوي او عبدل پاشایي د کار مودې د ۲۰۱۳ کال تر لومړیو پوري دوام کوي. د کمیسیون د کمشنرانو په انتصاب کې د ولسمشر مطلق صوابدید ځواک، په راتلونکې ټول ټاکنو کې د ده د بېطرفې په اړوند په ځېنې اپوزیسون ډلو کې وېره راپاروله. همدارنګه د دسمبر په میاشت کې د کمیسیون او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د ایلیکټ دوهم (د سبا لپاره حقوق او د ټاکنو ظرفیت، دوهم پړاو) د ترون لاسلیک، د ټاکنو په اړوند د دوو کلونو د مرستو پروژه په لومړي سر کې د ظرفیت په رامنځته کولو او د کمیسیون پر ځواکمنتیا باندي مرکوز دې.

۹. ولسمشر کرزی په خپله وینا کې چې د ملي شورا د ۱۶ دوریي د پرانیستلو پر مهال وکړ، په تېر کال کې د حکومت لاسته راوړنې یې برسېره او د روغتیا او پوهني په ډګرونو کې پرمختګونه په ګوته کړ. د پارلمان دوه تنه غړي، هاشم وطنوال د اروزګان ولایت استازی، او مطلب بیګ د تخار ولایت استازی یو ځای د ۴۷ تنه نور افغان ستر چارواکي او د ټولنو مشران په کې وو او په تېر کال کې د تاوتریخوالي له امله خپل ژوند له لاسه ورکړي وو، یادونه وشوه. همدارنګه ولسمشر ټېنګار وکړ چې لازمه ده افغانان، د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون په رڼا کې د یو واحد هیواد په ډول، په خپله خپل سرنوشت وټاکي او دا یې هم وویل چې هیواد یې د بهرنیو لپاره سیاسي لابراتوار نه دی. هغه د ملي شورا د غړو څخه رغنده همکاري وغوښتل او دوي ته یې اطمینان ورکړ چې د حکومت اړوند بستېز پالیسګانې او نومول شوي وزیران ډېر ژر د پارلمان د تایید اخیستلو لپاره‌وړاندي شي. د ملي شورا په نورو دندو کې د بودجې تصویب دی چې د فبروري په ۵ نېټه مشرانو جرګې ته استول شوي او همدرانګه یو زیات شمېر قوانین چې د ولسي جرګې بیلابیلو کمیسیونونو سره پاتې دې، شامل دې.

۱۰. د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۲۲ نېټه په کابل کې لس سیاسي ګوندونه سره را ټول شوي وو چې ولسمشریزو ټاکنو پخواني نوماند او د اپوزیسیون د مشر عبدالله عبدالله تر مشري لاندي د افغانستان ملي ائتلاف ډله رامنځته کړي. د پالیسي

په کليدي پلاتفورمونو کې پارلماني حکومت، لږ مرکزيتوب او زيات ولايتي ځواک شامل وو. بل عمده اپوزيسيون بلاک د افغانستان د ملي جبهې ائتلاف دی چې د احمد ضيا مسعود تر رهبري لاندې دی، چې د ورته حکومتداری سيستم او بدلونونو ملاتړ کوي. دغه موضوع د مشاجري څخه ډک بحثونو لامل شوي – چې اکثراً پر قومي ليوالتيا ولاړ دې – چې د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون لويې جرګې کې ريښه لري، چې په هغه کې د مرکزې دولت جوړښت تاييد شو. په تېرو نېږدې وختونو کې ولايتونو ته زيات ځواک ورکولو غوښتنې د عام وګړو په منځ کې د تاوده بحثونو لامل شوي.

## ب. امنيتي بدلونونه

۱۱. ملګري ملتونه خپل کار ته د امنيتي اړوند پېښو ځارنې ته دوام ورکړي کوم چې په ټول هيواد کې د ملکي فعالينو کار، خوځښت او خونديتوب، چې په ځانګړي ډول د ملګرو ملتونو ورکړ شوي دندې او د فعاليتنو پلې کول اغېزمنوي. امنېتي اړوند پېښې د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په مياشت کې (۱۲۹۶) او د ۲۰۱۲ کال په جنوري مياشت کې (۱۲۸۶) پېښې وو چې د تېري دوري دوو مياشتو راپور ورکولو د مودې په پرتله لږ شوي وو. همداراز دغه شمېره د تېر کار يعنې د ۲۰۱۰ کال د دسمبر مياشت په پرتله چې (۱۵۸۱) پېښې ثبت شوي وو او د ۲۰۱۱ کال د جنوري په مياشت کې چې (۱۶۳۶) پېښې ثبت شوي وو، هم لږ شوي. دغه کمښت د څو اړخيزو فکتورونو وياند دی چې په هغه کې فصلي رجحانات (ډېر سوړ ژمی په پراخه پيمانه د بلواګرو د خوځښت خنډ ګرځې) او همدارنګه د افغان او نړيوال ځواکونو عمليات چې د دوبي او منی په فصلونو کې د بلواګرو شبکې په نښه کوي، ځانګړي ډول د سهيل په حوزه کې، هم شامل دې. وسله واله شخړې او تعبيه شوي چاوديدونکې توکې د دغو پېښو عمده لاملونه ګڼل کيږي چې د راپور په موده کې د ټولو پېښو کابو ۶۰ سلنه جوړوي. د هيواد سهيل لويديځ ولايتونه او همدارنګه د ختيز په زون کې د کنړ او ننګرهار ولايتونه د پوځې فعاليتونو په محراق کې پاتې شول د دغو پېښو زياته شمېر تجربه کړل.

۱۲. د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په مياشت کې د حکومت ضد عناصر ۹ ځانمرګې بريدونه او د ۲۰۱۲ کال د جنوري په مياشت کې ۱۲ ځانمرګې بريدونه تر سره کړي چې دوه بريدونه يې پېچلي بريدونه وو. د ګواښ او ارعاب يو کمپاين دوام درلود چې د حکومت د لوړ پوړو چارواکو، د امنيتي ارګانونو پرسونل او همدارنګه ځايي سياسي مخور کسانو او مذهبي مشرانو د هدفي وژنو سره يو ځای و. وروسته دغه هدفي وژنې پر سهيل ولايتونو باندی متمرکز شول چې په ټول هيواد کې د دا ډول د ټولو پېښو کابو ۵۰ سلنه جوړوي. ټول وژنې يوازې په مستقيم ډول په بلواګرو تړلې نه وو بلکې د ځايي قدرت پر سر هڅې هم تاوتريخوالې رامنځته کړي او د بې باوري او ډار چاپېريال سره مرسته کړي.

۱۳. د فبروري په ۲۱ نېټه وروسته له هغه چې د پروان ولايت د بګرام په هوايي ډګر کې د قران شريف سوځيدل شوي ټوکونو وموندل شول، د ۲۰۱۱ کال په پسرلې کې د سترو مظاهرو او لاريونونو لامل شو چې په يو لاريون کې د ملګرو ملتونو دوه نړيوال کارکوونکې، څلور نړيوال محافظين او پينځه تنه ملکي افغانان د مزارې شريف په ولايت کې ووژل شول. د فبروري تر ۲۳ نېټې پورې لږ تر لږه ۹ تنه ملکي افغانان د وروستې دا ډول پېښو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړي.

۱۴. په عمومي ډول د امنيتي ليږد دوهم پړاو د پلان سره سم پرمختګ کړي. د امنيتي ليږد د پلانونو پلي کول، دوهم پړاو په ۱۸ ځايونو کې، د امنيتي، ستراتيژيک اړيکې، حکومتوالي او پراختيا پروسې ترتيب شوي او همدارنګه د ولايتي بيا روغونې ټيمونو د ادلون بدلون باندي د افغانستان د حکومت او ايساف د ځواکونو تر منځ، چې د ناټو تر مشرتابه لاندي کار کوي، موافقه تر سره شوه. د ولايتي د ليږد بستې د مالې د وزارت له خوا تر جوړيدو لاندی دې تر څو د جغرافيايي سيمو پر بنسټ، د ملي لومړيتوبونو د پروګرامونو په پلې کولو کې مرسته وکړي.

۱۵. يوناما د ولايتي پرمختيايي کمېټو او اړوندو وزارتونو سره کار کوي چې د ولايتي پرمختيا پلان جوړونه پياوړې او د ايساف او حکومت تر منځ کلک اړيکې ترويج کړي. په دغه کار کې د حکومت لېږد د همغږی کمېسيون ته د لوژستېکې مرسته اماده کول دې تر څو په هغو سيمو کې چې د لېږد په دوهم پړاو کې ورباندي پريکړه شوي، پرمختګ وارزوي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو موسسې، وجهې او پروګرامونه پر دې کار پيل کړی چې د حکومت د لومړيتوبونو سره سم د لا زياتو ترتېباتو په اړوند رابطې او پوتنسيالونه تشخيص کړي.

۱۶. د ۲۰۱۲ کال د جنوری په ۳۱ نېټه د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام له خوا تر سره شوي د پوليس د پوهاوي د ۲۰۱۱ کلنۍ سروي د کورنيو چارو وزارت له خوا خپور شو. سروي د پوليس په ځان اتکا او د ښځينه پوليس افسرانو د ونډې په اړوند مثبت رجحانات ښيي. که څه هم د تېر کال په پرتله، د پوليسو په ليکو کې لږ اداری فساد راپور ورکړ شويدی، خو دغه مسله د حسابورکوونې سره يو ځای د يو ستر او پاتې ننګونې په ډول را برسېره شوي. پدې خاطر چې د ټولنې پر بنسټ د کنترول کار او امنيت هڅې لا پسې ښه شي، د افغان ځايي پوليس نوښت نور هم پراخ شوي او کابو ۱۱۰۰۰ ځايي پوليس غړي په ۵۷ سيمو کې فعال دې. د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۲۵ نېټه د ملي امنيت په شورا کې د کورنيو چارو وزير اعلان وکړ چې د ټولنو د امنيت يو بل نوښت، د مهم بنسټېز محافظت پروګرام،ملتوي شې پداسې حال کې چې د پروګرام راتلوونکې معين دی.

۱۷. د راپور ورکولو په دوره کې ولسمشر کرزي د نړيوالې ټولنې د غړو سره دوه اړخيز ستراتيژيک هوکړه ليکونه امضاء کړي چې د امنيتي مرستو برسېره، د اقتصادی او فرهنګې ډګرو په ګډون، اوږد مهاله مشارکت بې خونديي کړي.

## ج. سيمه ييز همکارې

۱۸. د افغانستان په اړوند د استانبول د کنفرانس: د اسيا د زړه په هيوادونو کې امنيت او همغږي، چې د ۲۰۱۱ کال د نومبر په مياشت کې جوړ شوي و، د پلې کولو د پروسې په دوام، د افغانستان او د سيمې د هيوادونو تر منځ سياسي ډيالوګ او همغږی د راپور په موده کې د خوځښت شاهد و. په کابل کې د اړوندو سفيرانو په يوه غونډه کې چې د ۲۰۱۲ کال د فبروري په ۵ نېټه داير شوي و، حکومت هغه مفهومې سند توزيع کړ چې په کابل کې د وزيرانو د کنفرانس په تعقيب چې د جون په ۱۱ نېټه کېداير شي، د يو لار نقشي په ډول کار وکړي. دغه سند د اعتماد رامنځته کولو پر ۱۲ تدبيرونو باندې تمرکز لري (په اصل کې د استانبول په کنفرانس کې ۴۳ تدبيرونه وړاندي شوي وو.) چې موخه يې د سيمه ييز همکاري د دريو ستر ډګرونو، لکه سياست او امنيت، اقتصاد، او پوهنه، دوديز او حقوقې مسايل، پراخول دي.

۱۹.	د فبروري په لومړي نېټه اغلې حنا رباني کُهر د پاکستان د بهرنیو چارو وزیره په کابل کې د ولسمشر کرزی سره وکتله، چېرته چې دوي د امنیت، پراختیا او سوداګري په ګډون د دوه اړخیزو همکاریو او یو لړ نورو موضوعاتو په سر باندې سره وغږیدل. په یوه ګډه اعلامیه کې پاکستان یو ځل بیا د افغانستان سره خپل بشپړ ملاتړ تایید او پر دې هوکړه وکړل چې یوازې د افغانانو تر مشري او د دوي په مالکیت د مصالحې پروسه د اوږد مهالې سولې د تر لاسه کولو لپاره مهمه ده.

۲۰.	د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۲۱ نېټه د افغانستان د ملي شورا د غړیو یوه ۲۴ کسېزه ډله د اسلام آباد څخه لیدنه وکړل او د پاکستان صدر اعظم یوسف ګیلاني، او د افغانستان او پاکستان د پارلمان د غړو تر منځ د ډیالوګ د یوې برخې پر بنسټ د پاکستان د پارلمان غړي او مدني ټولنو د سازمانونو سره لیدنه وکړل. دوي توصیه وکړل چې د تروریزم سره د مبارزي او د تروریستانو د خوندي ځایونو د مسلې د رسیدګې لپاره همغږي لا پسې ښه کړي. د ۲۰۱۲ کال د جنوري په ۳۱ نېټه د افغان سناتورانو یوه ډله په اسلام آباد کې د پاکستان د صدر اعظم سره وکتل چې د دواړو هیوادونو د پارلماني غړو تر منځ د ډیالوګ د یوې برخې پر بنسټ، د پولو پر دواړه خوا د ډزو پر لړۍ باندې بحث وکړي.

۲۱.	د دري اړخېزې ناستې په سرمشریزه کې، د افغانستان، پاکستان او ایران ولسمشرانو هوکړه وکړل چې اجازهنه ورکوي چې د خپلو هیوادونو څخه یو بل ته ګواښ وکړي او د سوداګري د سهولتونو او ګډو زیربناوو او د انرژۍ د تولید په ګډون د مخدره توکو په وړاندې مبارزي او اقتصادې مسایلو باندې همغږي پیاوړي کړي.

۲۲.	د افغانستان او ګاونډي هیوادونو تر منځ دوه اړخیزې اړیکې په اقتصادې همکارۍ کې د ښه پرمختګ شاهد و. د جنوري په ۱۶ نېټه د ولسمشر دفتر اعلان وکړ چې حکومت د پاکستان هغه غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړي چې دغه هیواد کولای شي د افغانستان له لاري د ازبکستان د هیواد څخه د برېښنا د انتقال مزې تېر کړي. د ابو او برېښنا وزارت مرستیال وزیر غلام فاروق قاضی زاده د وینا پر بنسټ، د مزې مسیر او شرایط د دواړو هیوادونو د تخنیکې ټیمونو تر منځ د بحثونو په دوران کېمعین شي.

۲۳.	همداراز د جنوري په ۱۶ نېټه د افغانستان – پاکستان هیوادونو د اقتصادي ګډ کمیسیون اتمه ناسته په اسلام آباد کې پرانېستل شو چې د افغانستان د مالیې وزیر محمد عمر زاخیلوال او د پاکستان د مالیې وزیر عبدالحفیط شیخ له خوا په ګډ ډول ریاست کیده. ګډ کمیسیون موافقه وکړه چې د دوه اړخیز همغږي د پیاوړي کولو لپاره، په ځانګړي ډول د ۱۰۰۰ مېګا وات د برق مزې (کاسا-۱۰۰۰ پروژه) او همدارنګه د مرکزی اسیا د جمهوریتونو څخه د افغانستان له لاري څخه پاکستان ته د غازو د نل لیکې انتقال او همدارنګه د افغانستان له لاري د پاکستان او تاجکستان تر منځ د سړک جوړیدو لپاره په زمانې لحاظ محدود لار نخشه تنظیم کړي.

۲۴.	د افغانستان او ترکمنستان هیوادونو تر منځ د اقتصادې همکاری په اړوند ناسته د جنوري په ۲۶ نېټه په ترکمنستان کې د ولسمشر کرزی او د ولسمشر بیردې محمدوف سره د لېدنې پر مهال تر سره شوه. په دغه ناسته کې د بحثونو مرکزیت د افغانستان له لارې پاکستان او هندوستان ته د غازو د نل لیکې د بشپړ پلې کولو لپاره تدابیر او همدارنګه د افغانستان او ترکمنستان تر منځ د اور ګاډې د پټلۍ او افغانستان ته د برېښنا پر صادرولو ولاړ وو.

۲۵. همداراز په افغانستان کې د سېمې د هیوادونو له خوا د پام وړ پانګونې مثالونه هم لیدیل شوي. د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۲۶ نېټه په هغه ناسته کې چې په تهران کې د افغانستان د سوداګرۍ او صنعت وزیر انور الحق احدی او د ایران د اسلامې جمهوریت د تېلو مرستیال وزیر ترمنځ تر سره شوه، د ایران اسلامې جمهوریت خوا موافقه وکړه چې په هر کال کې تر ۱ میلیون ټن د پطرولیم محصولات انتقالوي. همداراز ښاغلي احدی د سهیل په پوله کې د ایران د اسلامې جمهوریت د پولې د تسهېلاتو څخه لېدنه وکړه چې ممکنه ده د افغانستان د صادراتو او وارداتو د انتقال لپاره وکارول شي. د دسمبر په ۲۸ نېټه د لومړي ځل لپاره افغانستان د تېلو تفحص لومړنې قرارداد د یوه چېنايي کمپنۍ سره لاسلیک کړ تر څو د سرپل او فارياب په ولایتونو کې درې د تېلو سایټونه جوړ کړي چې کابو ۸۷ ملیون بیرل تېل لري او په راتلونکې ۲۵ کلونو کې ۷ بیلیونه امریکايي ډالر افغانستان ته راوړي. د ۲۰۱۲ کال د جنوري په ۱۶ نېټه د ایرانې یوه کمپنې سره قرارداد لاسلیک شو چې هر کال په هرات کې ۱ ملیون ټنه سمنټ تولید کړي چې ارزښت يې ۱۵۰ میلیونه امریکايي ډالره کېږي او همدارنګه د هرات په ولایت کې د پهلوانان د سکاره کان ته پراختیا ورکړي.

۲۶. د جنوري د ۲۹ بیا ۳۱ نېټې پورې، د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري او د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام په مرسته، د افغانستان او د ایران او پاکستان د اسلامې جمهوریتونو تر منځ په دوبۍ کې غونډه تر سره شوه تر څو د افغانستان د مهاجرینو لپاره د څلوړ اړخیزو حل لارو پر ستراتیژۍ باندې بحث وکړي. اوس مهال د ایران او پاکستان هیوادونه د کابو ۳ ملیون افغان مهاجرینو کوربه دي، په داسې حال کې چې د مهاجرینو لپاره د ملګرو ملتونو وروستنې څېړنې ښيي چې د بېرته ستنیدونکو کابو ۶۰ سلنه په ډېره ناوړه حالت کې ژوند کوي، او په افغانستان کې د خپل ژوند د بیا جوړولو په کار کې د سترو خنډونو سره مخامخ دي. د یو امن او با ثباته افغانستان لپاره د سېمه ییز امنیت همکاري د استانبول د پروسې په مطابقت، د ستراتیژۍ موخه دا دی چې داسې چاپېریال رامنځته کړي تر څو د ټولنو د پانګونې له لارې د خپلې خوښې بېرته ستنیدل سره مرسته وکړي، د ژوند لپاره فرصتونه رامنځته کړي او د کوربه ټولنو لپاره مرسته اماده کړي. دغه ستراتیژۍ د دریګونو هیوادونو د حکومتونو له خوا لاسلیک شوي او تمه کېږي چې د مې په میاشت په سویزرلند کې په رسمې ډول لارې ته واچول شي. د دوبۍ په ناسته کې د څو اړخیزو ډنرانو د اعتماد صندوق هم تر بحث لاندې ونیول شو.

### دریم: بشري حقونه

۲۷. د فبروري په ۴ نېټه یوناما، په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو خوندیتوب خپل د ۲۰۱۱ کال راپور خپور کړ چې په هغه کې د پېنځو پرله پسې کلونو لپاره په ملکي تلفاتو کې زیاتوالې راپور ورکړ شوي دی. په دغه راپور کې یوناما ۳۰۲۱ ملکې وژنې ثبت کړي چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۸ سلنه زیاتوالې ښيي او په هغه کې د حکومت ضد عناصر د ۷۷ سلنه ملکې وژنې مسولیت په غاړه لري چې د ۲۰۱۰ کال د ورته مودې په پرتله ۱۴ سلنه زیاتوالې راغلی. حکومت پلوه ځواکونه د ۴۱۰ تنه ملکې وژنې مسولیت لري چې د ۲۰۱۰ کال د ورته مودې په پرتله ۴ سلنه کمښت ښيي. د ملکې کسانو په ۹ سلنه قضیو کې د ملکې کسانو وژنه هیڅ یوې ډلې ته منسوب شوي ندي.

۲۸. په طالبانو منسوب یوه ویب پاڼه یوه اعلامیه خپور کړي چې د ۲۰۱۱ کلنۍ راپور غندلې او هغه يې یکطرفه ګڼلې. دوي پر دې موافقه ندي کړي چې آیا والیان او امنیه قومندانان، څرنګه چې د راپور د ملکې کسانو د هدفې وژنې په مبحث کې راغلې، د حکومت ملکې چارواکې دي او که نه. همداراز په اعلامیه کې د پېښو یو لړلیک هم خپور شوي چې په هغه کې راغلې

چې حکومت پلوه ځواکونه ملکي کسان وژلي خو طالبان په دې باور دي چې یوناما هغه په راپور کې ندې څرګند کړي. یوناما دغه ادعاګانې څېړلي او توانېدلې چې تایید کړي چې په لړلیک ټولې پېښې ثبت شوي دي. که څه هم د طالبانو ورستنۍ اعلامېې په پراخه پېمانه د ملکي وګړو د تلفاتو کمښت ته یې ډېر اهمیت ورکړي، خو دغه اعلامیې د ملکي کسانو په وژنو او ژوبل کېده چې د دوي د جنګي تاکتیکونو له امله رامنځته شوي د کوم محسوس کمښت لامل ندی شوی. د قربانۍ په واسطه فعالیدونکې فشارې ماینونو، تعبیه شوي چاودیدونکې توکې او ځانمګرې بریدونو بندول، چې په خپل طبعیت کې پر افغان ملکي وګړو باندې بې تبعیضه او بې انډوله اغیزه لري، د داسې یو نیت لپارهښکاره او د باور وړ اقدام وي.

۲۹. د ۲۰۱۱ کال د دسمبر او د ۲۰۱۲ کال د جنوري په میاشتو کې، یوناما ۳۸۳ د ملکي تلفاتو د وژلو پېښې او ۸۲۰ د ژوبل کېدو پېښې ثبت کړي چې د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کال د ورته مودې او میاشتو په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۳۹ سلنه زیاتوالې ښيي. په داسې حال کې چې د وژل شویو ملکي تلفاتو په شمېر کې ۵ سلنه کمښت راغلې خو د ژوبل شویو ملکي تلفاتو په شمېر کې ۷۷ سلنه زیاتوالې ښودل شوي دی. د حکومت ضد عناصر د ملکي تلفاتو ۱۰۴۷ قضېې (۸۷سلنه) او حکومت پلونه ځواکونه د ۵۴ قضېې (۴ سلنه) مسولیت لري. د ۲۰۱۱ د دسمبر او د ۲۰۱۲ کال د جنوري په میاشتو کې د ملکي تلفاتو د مجموعې څخه ۱۵ سلنه، (۵۳ تنه وژل شوی او ۱۲۳تنه ژوبل شوي) ماشومان جوړوي چې د تېرې مودې په پرتله ۹ سلنه زیاتوالې ښيي.

۳۰. د دسمبر او جنوري په میاشتو کې د حکومت ضد عناصر له خوا تر سره شوي ځانمرګي بریدونه ډېر وژونکي وو. ټولټال ۱۵ ځانمرګي بریدونه د ملکي وګړي د زیات تلفاتو لامل شوي چې د بریدونو زیاتره برخه په سهیل حوزه کې وو. ټولټال ۱۲۴ ملکي کسان (۳۲ سلنه د ټولو وژل شویو ملکي کسانو له جمعې څخه) او ۴۴۲ ژوبل شوي (د ټولو ژوبل شویو کسانو ۵۴ سلنه) د ځانمرګي بریدونو له امله د زیاتو ملکي کسانو د وژل کیدو او ژوبل کیدو نښه ده د ۲۰۱۰- ۲۰۱۱ د ورته مودې په دو میاشتو کې پېښ شوي وو. د حکومت ضد عناصر له خوا د تعبیه شوي چاودیدونکې توکي له امله ۱۱۱ ملکي کسان د دسمبر او جنوري په میاشت کې وژل شوي چې د ۲۰۱۰-۲۰۱۱ د ورته مودې په پرتله ۱۷ سلنه کمښت ښيي.

۳۱. د حکومت پلوه ځواکونو له خوا زیاتره وژل شوي ملکي کسان د هوایي بریدونه له امله دي. د دغه بریدونو له امله ۱۲ ملکي وګړي وژل شوی چې د تېر کال د دوو میاشتو په پرتله ۳۷ سلنه کمښت ښيي. د شپه نېز جنجالي چاپېزو عملیاتو له امله د ملکي کسانو په تلفاتو کې ۱۳ سلنه کمښت راغلې ( ۹ تنه وژل شوي او ۴ تنه ژوبل شوي) چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله ۴۸ سلنه کمښت ښيي. د ځمکنۍ شخړو له امله ۱۶ ملکي کسانو ته تلفات اوښتي (۹ تنه وژل او ۷ ژوبل شوي) چې د تېر کال په پرتله ۷۰ سلنه کمښت ښکارندوي دی.

۳۲. یوناما، د هیواد د کارې ځواک د نورو غړو سره یو ځای، په افغانستان کې د ماشومانو د وضعیت په اړوند راپور ورکولو او څارنې میکانیزمونو د پلې کولو کار ته دوام ورکړي. د هغه عمل پلان په غبرګون، چې د ۲۰۱۱ کال د فبروري په میاشت کې لاسلیک شو ، د افغانستان حکومت د ماشومانو د په کار ګمارلو او نورو جدې سرغړونو په مخنیوي کې، د فرمانونو د صادرولو، عامه پوهاوي د زیاتولو کمپاینونو او د افغان امنېتي ځواکونو په لیکو کې د ماشومانو د حقونو په اړوند د ظرفیت رامنځته کولو له لارو په ګډون، د پرمختګ راپور ورکړي. د هیواد په لویدیز سېمه د هرات او غور په ولایتونو کوټلې ګامونه اخیستل شوي چې د پوځ او پولیس د جلب او جذب په څانګو کې د ماشوم د ساتنې واحدونه رامنځته شوي.

۳۳.	د افغانستان په توقیف ځایونو کې د توقیف شوو کسانو سره د چلند په اړه د یوناما د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر د میاشتې د راپور په غبرګون، د افغانستان حکومت او ایساف د کلیدي سپارښتنو د پلې کولو په اړوند ګامونه اخیستي دي. په هغه ۱۶ توقیف ځایونو کې چې یوناما تشخیص کړي و چې په هغه کې په سیستماتیک ډول شکنجه تر سره شوي او دغو توقیف ځایونو ته د بندیانو انتقال تعلیق شوي و، ایساف د دغو ځایونو څخه د څارنې یو پلان پلې کړي، او په ۱۶ توقیف ځایونو کې د ملي پولیس او د ملي امنیت ریاست د تحقیق پرسونل ته د وضعیت د ښه کولو روزنه ورکړي. د دغه ځایونو د څارنې د پلان د لومړي پړاو په بشپړ کولو او د وضعیت د ښه کولو د روزنې وروسته، ایساف د فبروری په ۱۵ نېټه اعلان وکړ چې ۸ نور توقیف ځایونه تایید شول او ۴ نور توقیف ځایونه په مشروط ډول تر بلې څارنې پوري تایید شول. پاتې ۴ توقیف ځایونه په کابل او کندهار کې د ملي امنیت د ریاست د توقیف ځایونو په ګډون، لا تر اوسه تایید شوي نه دي. ایساف ۸ بشپړ تایید شویو توقیف ځایونو ته د بندیانو انتقال له سره پیل کړي او پلان لري چې د انتقال شوي بندیانو، د توقیف څخه محاکمه کولو د وضعیت د ارزونې پروګرام پیل کړي او په خپلو ټولو سیمه ییزو قوماندانیګانو کې د ارزونې او روزنې ډلې رامنځته کړي. د ملي امنیت عمومي ریاست خپل په چوکاټ کې د بشري حقونو څانګه یې رامنځته کړي چې د ناوړو کړنو او شکنجې په اړوند څېړنه وکړي او خپل کارکوونکو ته داسې هدایتونه ورکړي چې دوي خپل مسولیت ته پاملرنه وکړي او ملي او نړیوال قوانین رعایت کړي. یوناما هم د راپور د نشرولو وروسته د ملي امنیت، پولیس او د محبسونو د عمومي ریاست تر امر لاندې په ۷۸ توقیف ځایونو کې خپل د ارزونې کار ته دوام ورکړي چې د جګړي اړوند توقیف شوي کسانو سره د چلند او سلوک بیاڅارنه وکړي.

۳۴.	د ولسمشر د ۲۰۱۱ کال د دسمبر د میاشتې فرمان چې د هغه پر بنسټ د محبسونو عمومي ریاست د عدلیې وزارت څخه د کورنیو چارو وزارت ته انتقال شي، د جنوري په ۱۰ نېټه په رسمي ډول عملي بڼه خپل کړ. د کورنیو چارو وزارت هم یو ځل بیا خپل ژمنتیا د دغه وزارت په چوکاټ کې د ریاست خپلواکې بیا اعلان کړ او وویل چې د کنترول او تادیب چارو تر منځ جلاوالې ډاډمن کړي. یوناما د وضعیت څارنه کوي تر څو دغه جلاوالی، په ځانګړی ډول د ولایتونو په کچه، ښه درک او پلي شي.

۳۵.	د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون د پېنځو تنو کمشنرانو د کار موده د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په ۱۶ نېټه پای ته رسېږي. ولسمشر کرزی شپږ تنه کمشنران بېرته په دندو وګمارل او دری بستونه لا هم خالي پاتې دي. د افغان مدنې ټولنې سازمانونه د پروسې د نه روڼتیا له امله خپله اندېښنه څرګند کړي او ویلي چې نا مناسب انتصابونه د کمیسیون پر ګټه ورتیا باندي اغېزه کوي. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کمېسارې اغلې ناوي پیلې او یوناما د انتصابونو د پروسې په اړوند د حکومت او مدنې ټولنو تر منځ وروستې خبري اتري ستایلې او ټېنګار کړې چې با کفایت کمشنران چې د ټولنې د ټول اقشارو څخه استازیتوب وکړي، د ښځو او لږکیو په ګډون، باید د یوې عام شموله، روڼ او بشپړ مشورتې پروسې له لاري وټاکل شي تر څو ملي او بین المللی معیارونه پوره کړي.

۳۶.	یوناما د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او د مدنې ټولنو د سازمانونو سره خپل ګډ کار ته دوام ورکړي چې د ښځو د حقونو د خوندیتوب لپاره څارنه او ملاتړ ترسره کړي. د ۲۰۱۱ کال د دسمبر د ۱۸ تر ۲۰ نېټې پوري، د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په میاشت کې د "مخ ته پرته اوږده لار: د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالې د قانون پلې کول" تر عنوان لاندې خپور شوي راپور په اړوند، یوناما د حکومت او د قانون د تنفېذ چارواکو لپاره د ملي متخصصینو په کچه یو سیمېنار دایر

کړي و. یوناما همدارنګه په مرکزي لوړو سېمو، مرکزي او سهیل ختېزو سېمو کې د دغه قانون په اړوند د ظرفیت د زیاتولو پروګرامونو ملاتړ تر سره کړي تر څو په ځایي ټولنو کې د قانون په اړه پوهاوي زیات کړي او داسې امکانات رامنځته کړي تر څو د مذهبي مشرانو، د قانون د تنفیذ او حکومتي چارواکو او د مدني ټولنو د ډلو سره د ښځو د حقونو پر مسایلو باندي بحث وکړي.

**څلورم: د کابل د پروسې پلي کول او د مرستو منطقي تسلسل**

۳۷. د راپور په موده کې د افغانستان حکومت او نړیواله ټولنه سره یو ځای کار کړي تر څو هغه ژمنې تر سره کړي کوم چې د متقابل حسابورکوونې او د ملي لومړیتوبونو د پروګرامونو تسلسل په اړوند، د ۲۰۱۱ کال د بُن په کنفرانس کې تر سره شوي وو. په دغه ناسته کې د ملي لومړیتوبونو د پراګرامونو او د قانون د حاکمیت او حکومتوالي اړوند نوښتونو باندې ځانګړې ټېنګار وشو.

۳۸. د دسمبر په میاشت کې د افغانستان لپاره د بیارغونې د وجهي صندوق د مدیریت کمېټه د ۱۰۰ ملیونو امریکايي ډالرو لومړنې قسط (ټولټال ۳۵۰ ملیون امریکايي ډالر) تایید کړ چې پر پایلو ولاړ پروګرام باندي په راتلونکې پېنځه کلونو کې د ظرفیت د رامنځته کولو پر پلې کولو باندې ولګول شی. دغه پروګرام د مالیې د وزارت او د ملکي او اداري خدمتونو د سمون د خپلواک کمیسیون سره په همغږی کې، اړوندو وزارتونو او ریاستونو لپاره میکانیزمونه رامنځته کوي چې د ظرفیت د لوړولو لپاره پلانونه طرحه کړي، او د ملي لومړیتوبونو د پروګرامونو اړوند مسولو وزارتونو کې د بودجې پلې کول، د چارو پروسې او د خدمتونو وړاندي کول لا پسې ښه کړي. د دغه پروګرام تر لاندي ۲۴۰۰ تنه کارکوونکېپه دندو وګمارل شي او د ملکي خدمتونو په کلیدي بستونو کېروزنه تر لاسه کړي.

۳۹. د جنوري په ۲۲ نېټه، د مرستو د اغېزمنتوب په نهمه غونډه کې د یوه سترې کچې په کمېټه کې چې د مالیې وزیر تر مشرى لاندي کار کول، دغه کمېټه د نازک وضعیت هیوادونو سره د تعامل لپاره د نوي کړنلارې پر بنسټ، چې د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په میاشت د کوریا د جمهوریت د بوسان په ولایت کې د مرستو د اغېزمنتوب د سترې کچې په څلورم فورم کې تایید شوي و، د افغانستان د حکومت او د نړیوالې ټولنې تر منځ د تعامل لپاره یوه نوي کارې چوکاټ رامنځته کړ. افغانستان د لومړي هیواد په ډول انتخاب شو چې دغه تګلاره پکې پلې شي، پدې شرط چې پلان شوي ستراتیژي د ټیکاو څخه اوږد مهاله پرمختیايي همکارۍ ته بدل شي. پر دوامداره هڅې او، د سولې ساتنې او سولې رامنځته کولو کلیدې اهدافو د پیاوړي کولو لپاره، د سارې په ډول مشروع او عام شموله سیاسي پروسه، سوله او عدالت او د یو حسابورکوونکې خدمتونو وړاندي کولو لپاره د عایداتو تولید، اضافي کړنلارو باندې ټېنګار شوي دی.

۴۰. د راپور ورکولو په موده کې د حکومت او نړیوالې ټولنې تر منځ د حکومتوالې پر سمونونو باندې، چې د اقتصادي ودې او د خدمتونو لا پسې ښه وړاندي کولو منجر کیږي، د مسولیت د لېږد او د ملي لومړیتوب د پروګرامونو د پلې کولو لپاره خورا مهم دې، مخ پر وده توافق شتون درلود. په دې خاطر د ځېنو پېښو لپاره پلان جوړول پیل شوي چې موخه یې د افغانستان په اړوند د توکیو د کنفرانس څخه مخکې چې تمه کیږي د ۲۰۱۲ کال د جولاي په میاشت کې دایر شي، ملموس

پایلې وړاندې کړي. د مارچ د میاشتې په نېمایي کې د حکومتوالۍ په اړوند د بین الوزارتي ناستو او بحثونو کې یو لړ موخې او معیارونهطرحه شې؛ چې د هغه په تعقیب د همغږۍ او ارزونې ګډ بورډ ناستهتر سره شي. دوارهد هغه ژمنې ډاډمنوي چې یو لړ سمونونه تر سره شې چې د حکومت کلیدې دندې پیاوړې کړي او د تمې وړ مالې تشې ته رسیدګي وکړي.

**څلورم: حکومتوالي او د قانون حاکمیت**

۴۱. د راپور په موده کې د ځایي ارګانونو خپلواک عمومې ریاست، د څارنې عالي اداره او د ملکي خدمتونو د اداري سمون خپلواک کمیسیون، د یوناما په ملاتړ، د ډونراو د ټولنې سره یو لړ رسمې مشورې پیل کړې چې د حکومتوالۍ او ملي لومړیتوب پروګرامونو دري اړوند: رونوالي، حسابورکوونه او اغیزمن او ګټه ور حکومت او ځایي حکومتوالي د ملاتړ لپاره توافق رامنځته کړي. ګډ لومړیتوبونه تشخیص شوي او د څارنې او همغږۍ د ګډ بورډ د ناستې څخه مخکې، د تایید لپاره د حکومتوالۍ د دایمې کمېټې ته واستول شي. په ورته حال کې هڅې رواني دي چې د قانون او عدالت د ټولو لپاره په ډګر کې ملي لومړیتوب پروګرام نهایي شي، تر څو د بورډ په راتلونکې غونډه کې، بورډ ته واستول شي. د یوناما په ملاتړ سره، د افغانستان حکومت د حکومتې نهادونو او ډونرانو سره یو لړ د تمرکز ډلې رامنځته کړي تر څو د پروګرام بیلابیل اړخونو په پام کې ونېسي.

۴۲. د حکومت او نړیوال ټولنې د څارنې او ارزونې ګډه کمېټه د فساد په وړاندې د مبارزې کار ته دوام ورکړي. د فبروري په میاشت د دویم پړاو په یو لړ ناستو کې د نړیوالې ټولنې د حسابورکوونې او شفافیت کاري ډله د فساد په وړاندې د مبارزې ۶۴ معیارونو د لومړیتوب ورکولو او پلي کولو د ملاتړ لپاره تر بحث لاندې ونیول. په دغه کې د اداري فساد په وړاندې د مبارزې د قانون په مسوده کې د وړاندیز شویو تعدیلاتو په ګډون، د اداري فساد د امکانات او فرصتونو د کمولو لپاره د پرسونل د جوړېښت منظم کول، او د نړیوالو سازمانونو د خپل داخلې حسابورکوونې او شفافیت ته رسیدګي شامل دي.

۴۳. یوناما، په ځایي او ولایتي کچه کې د حکومتداري د پالیسي لپاره د ملي مړیتوبونو د پروګرام د پلي کولو د ملاتړ په خاطر د حکومت سره مرسته کوي چې د ولایتي حکومتدارۍ د همغږۍ نوي فُرَم رامنځته کړي چې په کال کې څلور ځله ناستې ترسره کړي. د دغه فُرَم په غړو کې د ملکي خدمتونو د اداري سمون د خپلواک اداري، د مالیې وزارت، د کلیو بیا جوړولو او پراختیا وزارت او د اقتصاد وزرات استازي به ګډون ولري. یوناما خپلو هڅو ته دوام ورکړي تر څو، د ټاکل شوي او غیر ټاکل شوي نهادونو او د مدني ټولنو د سازمانونو سره یو ځای، په ولایتي کچه کې حسابورکوونکي حکومتداري ترویج کړي. د مزارشریف په ولایت کې یو کنفرانس جوړ شوي و تر څو د ولایتي حکومتداري او د ولایتي شورا سره د لا اغیزمن تعامل په اړوند د ځایي ارګانونو د عمومي خپلواک ریاست پالیسي په اړوند د مدني ټولنو پوهاوي ته ارتقاء ورکړي. په ورته حال کې یوناما، د ملکي خدماتو د اداري سمون خپلواک کمیسیون په همکارۍ، د فراه، بادغیس او غور په ولایتونو کې د عامه اداري سمون په اړه د پوهاوي زیاتولو لپاره څلور ورځنې روزنیز ورکشاپ په بریا سره پلي کړي چې په هغه کې ۱۶۰ تنه ملکي کارکوونکي برخه اخیستې وو. ګډونکوونکي د کمیسیون د عامه ادارو د سمون د پالیسي په مطابقت د ملکي خدماتو د قانون په اړه پوهه تر لاسه کړي.

۴۴. د جنوري او فبروري په میاشتو کې د څو اوونۍ په ترځ کې د هیواد ۳۴ ولایتي شوراګانو کې خپل د کلنۍ اداري هیئت (د ولایتي شورا رئیس، د رئیس مرستیال او منشي) ټاکنې تر سره شوې. که څه هم یوناما په پروسه کې فعاله ونډه نه درلود، خو په هغو ځایونو کې چې ځایي چارو کې ترې غوښتنه وکړل د دغو ټاکنو د پروسې څخه نظارت تر سره کړي. په عمومي ډول ټاکنې پرته له جنجال او ناندریو تر سره شوې خو بیا هم په ځینو سمبو کې د نصاب د تعبیر پر سر مشاجرې شتون درلود چې د دې اړتیا برسېره کړ چې د رایو ورکولو څخه مخکې پر هغه طرزالعملونو باندې هوکړه وشي کوم په پراخه پیمانه منل شوي او درک شوي. د ځایي ارګانونو خپلواکه اداره او د ټاکنو خپلواک کمیسیون سره په ګډه کار کوي چې دغه ننګونې حل کړي.

۴۵. د جزایي اجراتو ګُد تصویب په ۲۰۱۰ کال کې د کابل کنفرانس وروسته د یو لومړیتوب په ډول تشخیص شوي و. همداراز د لوي څارنوالي د دفتر د جوړښت او صلاحیت، د اداري فساد په وړاندې د مبارزې قانون او د سترو جرمونو د کاري ډلې د قانون مسودي د یو ورکشاپ په ترځ کې د دسمبر د ۱۸ تر ۲۱ نېټې پورې د عدلیي وزارت تر مشرۍ لاندې تشریح او توضیح شول. ګډونکوونکې چې د لوي څارنوالي د دفتر، د کورنیو چارو وزارت او د ځایي ارګانونو د خپلواکې اداري څخه استازیتوب کول د دغو مسودو پر بیا کتنې باندې تمرکز وکړل. د دې وروسته د عدلیي وزارت د جزایي اجراتو ګُد مسوده د بیا کتنې لپاره د وزیرانو شورا ته واستول.

**شپږم: بشري مرسته او پراختیا**

۴۶. د حکومت د غوښتنې په ځواب کې چې د ملګرو ملتونو سیستم په افغانستان کې نور هم یو موټي عمل وکړي، په دغه هیواد کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي استازي د هغو هڅو مشري کول چې په سیستم کې لا زیات معقول تسلسل ډاډمن کړې. که څه هم په ځینو وختونو کې د بشرې مرستو او پرمختیا فعالین د پروګرام د وړاندی کولو په موخه اړتیا لري چې د ماموریت څخه جلا هویت ځان ته وساتې، خو د ملګرو ملتونو ټول موسسات، وجهې او پروګرامونه باید په متقابل ډول یو بل پیاوړي کړي. ځینې لاري د ملګرو ملتونو د پرمختیا ډلې ؛د ملګرو ملتونو منسجم ماموریت؛ او د ملګرو ملتونو د انکشافي اداري په ملاتړ طرحه شوي. د ملګرو ملتونو د هېواد په کچه ډله د خپل کلنې مشورتي ناستې (رېټریټ) پر مهال چې د جنوري په ۲۴ او ۲۵ کې تر سره شوه، د لا ښه او یو موټي هڅو لپاره لاندې څلور بېړنې ډګرونه په رابرسېره او تایید کړل: کلنۍ واحد ورکشاپونه، واحد بودجوي کاري چوکاټ، اړیکې او ملاتړ، او عملیاتي چارې. د واحد پروګرام جوړولو او بودجوي کاري چوکاټونو باندی نور بحث هم وشي. په راتلونکې کال کې د لا زیات معقول تسلسل د ډاډمن کولو داخلې هڅو کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایی مرستې کاري چوکاټ منځ مهاله بیاکتنه او د هیواد د ګډ ارزونې پرمختګ به شامل وي. د ۲۰۱۲ کال لومړیتوبونو کې د ملي لومړیتوب پروګرامونو او د حکومت نور کاری چوکاټونو سره همغږي، په بودجه کې شامل ملاتړ او د ظرفیت انکشاف شامل دې.

۴۷.	د راپور ورکولو په دوره کې، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام د افغانستان سره خپل د تعامل په اړوند یو ستراتېژیک بیاکتنه تر سره کړي، چې په هغه کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د ونډې د زیاتولو لپاره، د واحد ماموریت د یوې برخې په حیث، د یو لړ ګامونو سپارښتنه شوې، چې د افغانستان د حکومت سره د لنډ او د لېږد څخه وروسته دوره کې مرسته تر سره کړي، چې په هغه کې د پالېسي د یوې ځانګړي رامنځته کول هم شامل دی چې په افغانستان کې حکومت او د ملګرو ملتونو سیستم ته د مشورې او پالېسي خدمتونه وړاندي کړي. د دې برسېره د هغو ژمنو سره سم کوم چې د لندن او کابل کنفرانسونو کې په بودجه کې شامل ملاتړ په اړوند تر سره شوي وو، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په میاشت کې د افغانستان د حکومت سره د خپل مقصد په اړوند یو سند لاسلیک کړي چې د هغه پر بنسټ د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام خپل د مرستې تر ټولو زیاته یوه برخه په بودجه کې شامل له لاري تر سره کړي. تمه کیږي چې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام ۸۰ سلنه مرسته په دغه طریقه مصرف شي.

۴۸.	د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق د هیوادني پروګرام منځ مهاله بیا کتنه د جنوري په ۲۴نېټه پای ته ورسید. د دغې پروسي زیاتره برخه د حکومت تر مشري تر سره شوي او د ټولنو، پوهنتونو او مرکزی، ولایتي او د ولسوالي په کچه د چارواکو تر منځ پراخې مشورې تر سره شوې. دغه پروګرام د عدالت، روان معافیت او د پولیو ختمول، تغذیه، په ښوونځیو کې د نجونو د شاملولو زیاتوالي او د بېړنې قابلګی مراقبت په پېنځه ډګرونو کې د بیا معیاری کولو سره سم، جریان پیدا کړي. د خدمتونو د وړاندي کولو په اړوند، د ټولنو پر بنسټ پلان جوړول، پروګرام جوړول او مالکیت، ټولنیز نورمونو او ټولنیز بدلون ته رسیدګې، ارتباطات او لا بهتره ارزونه او نظارت باندي به زیات ټېنګار وشي. په ورته حال کې د ملګرو ملتونو د میندو او نوي تولد شوي د روغتیا په اړوند کاري ډله چې د روغتیا نړیوال سازمان، یونیسف، د ملګرو ملتونو د وګړو وجهي صندوق او نړیوال خوراکي پروګرام پکې شامل دي، په افغانستان کې د اړوندو وزارتونو سره په تماس کې دې چې د همدې موضوع په اړوند اندېښنونه ته چې د ملي لومړیتوب د پروګرامونو څخه پاتې دي، رسیدګې وشي، او چېرته چې امکان ولري هغو پروګرامونو ته چې مخکې تایید شوي دې، د عمل پلان ترتیب کړي. د جنوري د ۲۰ تر ۲۳ نېټې پوري د کار د نړیوال سازمان د متخصیصنو یوه کتونکې ډله د ملي لومړیتوب پروګرام د نهایی کولو لپاره، د مهارتونو د پراختیا او د کار د مارکیت د طرزالعمل سره برابر د ښه او دوامدار کار د تسهیل په اړوند تخنیکې مشوري ورکړي. د کار نړیوال سازمان خپل مشورو ته د همدي او د ملي لومړیتوب نورو پروګرامونو تر منځ د اړیکو د موندلو لپاره دوام ورکړي په ځانګړی ډول پر هغو لومړیتوبونو کوم چې د کرهني او کلیوالي زیربناو باندي تمرکز لري.

۴۹.	د نهادي ظرفیت او بشري مرستو پراخول د ملګرو ملتونو د دوامدارو لومړیتوبونو څخه دې چې د یو بریالي لېږد د ډاډمن کولو سره مرسته وکړي. د ۲۰۱۱ کال د جنوري په میاشت کې د اوبو او برېښنا وزارت د ملګرو ملتونو د خوراک او کرهني سازمان سره د ۲۷،۷ ملیون امریکایي ډالر په ارزښت یو تړون لاسلیک کړ چې د اوبو لګولو د بیا احیا او پراختیا د پروژې په پلې کولو کې تخنیکې مرسته اماده کړي. د دغه پروژې ۶ کلني بشپړه بودجه ۱۴۸،۷ ملیون امریکایي ډالر دی چې ۹۷،۸ ملیون امریکایي ډالر د نړیوال بانک بلاعوض مرسته ده چې د وچکالي لاملونو ته د رسیدګې په خاطر د ملي ظرفیت د پیاوړي کولو په موخه ورکړ شوی دی. دغه پروژه د اوبو لګولو د بېړنی احیا پروژې د فعالیتونو او ظرفیتونو په دوام دی چې مخکې ایجاد شوي و. د دغه پروژې په پایلو کې د کرهنیزو تولیداتو زیاتوالي شامل دی چې کابو ۲۳۰۰۰۰ کورنې به ورڅخه ګټمن شي، د افغانستان په شمال کې د اوبو لګولو دوه او یا دري کوچنې پروژې جوړول او په دغه وزارت کې د هایدرو مترولوژې د شبکو او سیستمونو پراختیا هم شامل دې.

۵۰. د بشري مرستو ټولنه پر هغو اړتیاوو باندي تمرکز ته ادامه ورکړی کوم چې د جګړو او طبیعي ناورینونو زیږنده دې او بېرته راستنیدونکو او داخلي بېځایه شویو کسانو لپاره لومړني مرستې اماده کوي. په نورو لومړیتوبو کې د مساوي او دوامداره پرمختګ لپاره تمرکز شامل دی چې د زریزې پرمختیایی موخې ترلاسه شي.

۵۱. د ۲۰۱۱ کال د سمبر او د ۲۰۱۲ کال د جنوري په میاشتو کې کابو ۱۹۳۰۰ تنه په ټول هېواد کې د جګړو له امله بېځایه شوي دې چې په افغانستان کې د بېځایه شویو کسانو بحران لا پسې خراب کړي او په ۲۰۱۱ کال د داخلي بېځایه شویو کسانو شمېر ۵۰۰۰۰۰ تنو ته ورسید چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله د جګړو له امله د داخلي بېځایه شویو کسانو د شمېر څخه ۴۵ سلنه زیاتوالي ښکاره کوي.

۵۲. د جنوري او فبروري په میاشتو کې د حاد زیانمنې، محدود سرپناه امکانات، لومړني خدماتو ته نه لاسرسي، د عاید نشتون او د غیرعادی او سخت ژمې وضعیت سره زړه بوګنونکې حالت ته مرسته کړي او د کابل ښار په غیررسمي سرپناه ګانو کې په پراخه پیمانه د ماشومانو د مړینې لامل شوي. اوس مهال د کابل په ښار او شاوخوا کې تر ۳۰۰۰۰ زیات خلک په ۴۵ غیررسمی پناه ځایونو کې ژوند کوي. د ۲۰۱۱ کال د نومبر میاشت بیا د ۲۰۱۲ کال د جنوري تر میاشت پوري زیاتره پناه ځایونو کې غیر خوراکي توکي او یا تیل ویشل شویدي. په دې اړوند کار دوام لري چې پاتې پناه ځایونو ته هم دغه مواد توزیـع شي. په غیر رسمي پناه ځایونو کې د جدي زیانمنې شتون د هغه سخت حقایقو د انځور ښکارندوی دی کوم چې په ټول هیواد کې افغان بېځایه شوي کسان ورسره مخامخ دې چې د دوي زیاتره کسان د بشري مرستې ټولنو ته لاسرسی نلري. د افغانستان د داخلي بېځایه شوی کسانو بحران د دوامداره حل لاره لپاره د افغانستان د حکومت او همدارنګه د پراختیایي فعالینو د بېرني، اغیزمن او همغږه عمل ته اړتیا لري تر څو داډ حاصل شي چې کلیوالي پراختیا، په ښارې سېمو کې د کور جوړوني پلانګزاری او د مالکیت حقونو موضوعاتو ته په سمه توګه رسیدګې وشي.

**اووم: د مخدره توکو سره مبارزه**

۵۳. د راپور ورکولو په موده کې پیاوړي سېمه ییزه همکارې تر اصولي تمرکز لاندي و، چې د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په میاشت کې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر د افغانستان او د هغه ګاونډي هیوادونو لپاره خپل سېمه ییز پروګرام په لار واچول. په دغه ناسته کې چې په ویانا کې دایر شوي و په هغه کې د افغانستان، ایران، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان حکومتونو څخه وزیران، مرستیال وزیران او لوړپوړې چارواکي او استازي ګډون درلود. سېمه ییز پروګرام یو ستراتېژیک کاري چوکاټ دی چې دغه دفتر د څو اړخیزو شریکانو سره کار کوي چې د دوي د مخدره توکو پر وړاندي مبارزه او د قانون پر حاکمیت باندي تمرکز لري تر څو د مخدره توکو پر قاچاق او سازمان شوي جرمونو په وړاندي اغیزمن غبرګون تر سره شي. په دغه پروګرام کې د مخدره توکو په وړاندي د مبارزې لپاره د قانون د تنفیذ د چارواکو روزنه، ګډ

بریدونه، د مخدره توکو کشف او ضبط، پر پولو باندې ګزمې او همدارنګه هغه فعالیتونه چې د پولو پر دواړو خواوو باندې د ناقانونه پېسو د جریان سره مبارزه وکړي، شامل دي.

۵۴. د سېمه ییز پروګرام تر چوکاټ لاندې د افغانستان، قرغزستان او تاجکستان د هیوادونو د مخدره توکو سره د مبارزې نهادونو د استازو تر منځ درې اړخیزه ناسته د دوشنبې په ښار کې د جنورې په ۲۰ نېټه جوړه شوه. په ناسته کې د بحثونو موخه دا وه چې د سازمان شوې جرمي ډلو په وړاندې ګډې هڅې، پر وخت معلومات شریکول او د مسلکي متخصصینو روزنه ډاډمنې شي. همداراز په ناسته کې د یو ګډ پروتوکول په ترڅ کې تصویب شو چې د درې ګونو هیوادونو د مخدره توکو په وړاندې د مبارزې د نهادونو مشران په کال کې دوه ځله سره ناستې ترسره کوي. د دې برسېره، د ستراتېژۍ په اړوند، پر پُولو باندې د نغذو پیسو د قاچاق د مخنیوې او د هغه په وړاندې د مبارزې په اړوند لومړنی سېمه ییز ورکشاپ د دوشنبې په ښار کې د جنورې د ۲۵ تر ۲۷ نېټې پورې دایره شوه. په دغه ورکشاپ کې د اته هیوادونو لکه د افغانستان، ایران، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان د حکومتونو د مالي تحقیق د څانګو مشران ګډون درلود.

۵۵. د موجوده سېمه ییز فرعی د اطلاعاتو د شریکولو د میکانیزمونو استازې، د مرکزی اسیا د سیمه ییز معلوماتو او همغږې مرکز، او د درې اړخیز نوښت د پلان جوړونی ګډ مرکز، د قرغزستان په الماتي ښار کې د فبروري د ۶ تر ۸ نېټې پورې سر ولیدل. د پورته یاد شوي سېمه ییز پروګرام تر مشري لاندې، او د افغانستان، ایران، قزاقستان، قرغزستان، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان د هیوادونو څخه د مخدره توکو سره د مبارزې د قانون د تنفیذ متخصصین او همدارنګه نړیوال ناظرین هغه معقول اقدامات تشخیص کړل چې په ۲۰۱۲ کال کې د ممنوعیت هڅې پیاوړې شي او په هغه کې د پریکرسر (د هیروین د تولید لپاره لازمی ماده) پر کنټرول باندې ټېنګار وشو.

۵۶. د فبروري په ۱۶ نېټه د ملګرو ملتونو عمومي منشي د پاریس د تړون پر بنسټ د وزیرانو په دریيم کنفرانس کې چې د ویانا په ښار کې جوړ شوي و ګډون وکړ، چې د نړیوال د متمرکز او هر اړخیز عمل د یوې برخې په ډول دی چې موخه یې د افغانستان څخه د تریاکو او د هیروین د جریان څخه مخنیوی کول دی. وزیرانو پر دې باندې ټېنګار وکړل چې اړتیا ده د تریاکو د کښت او تولید او همدارنګه د مخدرو توکو قاچاق او ناوړه ګټه اخیستنه کمه شي او په نړیواله کچه یو ائتلافي بورډ رامنځته شي چې د تریاکو د قاچاق سره مبارزه وکړي. په داسې حال کې چې ګډونکوونکو خپلې ژمنې او ګډ مسولیتونه بیا تکرار کړل، د پاریس د تړون ملګري د ویانا اعلامیه ترتیب کړل، هغه اعلامیه چې د افغانستان د غیر قانونی تریاکو د مصیبت په وړاندې د هر اړخیز او متوازن عمل لپاره د نړیوال ژمنې څرګندوي، چې یو نړیوال غبرګون او اقدام ته اړتیا لري او باید د تریاکو د عرضی او تقاضا دواړو خواوو ته رسیدګې وشي.

**اتم: د ماموریت ملاتړ**

۵۷.  عمومي اسامبله د خپل ۶۶/۲۴۷ ګڼه پریکړه لیک په ۹ برخه کې د ۲۰۱۲ کال لپاره د یوناما د یو سیاسي ماموریت په ډول ۲۴۱ ملیون امریکایي ډالر بودجه تایید کړي چې دغه بودجه په ۲۰۱۱ کال کې ۲۷۰،۷ ملیون امریکایي ډالر و. په ۲۰۱۲ کال کې کوم نوي ستره پروژه چې ډیره پانګونې ته اړتیا ولري په پام کې نه دی نیول شوي.

۵۸.  یوناما خپل هڅو ته دوام ورکړي تر څو خپل عملیاتي ظرفیتونو او اغیزمنتوب لا ښه کړي. په ټولیز ډول د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په میاشت کې د یوناما خالي بستونه د نړیوالو کارکوونکو لپاره ۱۹ سلنه او د داخلي کارکوونکو لپاره ۹سلنه وو. روزنیز مرکز خپل کار ته د ځايي او نړیوالو نهادونو سره ادامه ورکوي چې د ۱۱۳۸ تنه داخلي کارکوونکي او ۳۰۴ تنه بهرنې کارکوونکي ظرفیت پیاوړي کړي کوم چې د په ۲۰۱۱ کال کې د زده کړې د فرصتونو څخه ګټه اخیستې دې چې خپل مهارتونه تقویه کړي چې د ماموریت دندې ترسره کړي. د کویټ د ملاتړ په دفتر کې د یوناما او یونامي (په عراق کې د ملګرو ملتونو د مرستندوی پلاوي) تر منځ همغږي ادامه لري.

۵۹.  د افغانستان د حکومت پریکړه چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ تر میاشتې پورې ټول خصوصي امنیتي کمپنۍګانې باید د افغان په عامه نظم ځواک کې منحل شي د عملیاتي او حقوقي ستونزو سره مخ شوي دی. د ملګرو ملتونو او دیپلوماتیکو ماموریتونو ته اطلاع ورکړ شوي چې دوي د خپل د کمپونډونو د امنیت په خاطر کولي شي د موجوده حالت ته دوام ورکړي. د دغه امنیتي پروژې د راتلونکي ترتیبات او تنظیمات په اړوند د وضاحت غوښتنه شوي. په ورته حال کې یوناما د حکومت د دې پریکړي په اړه هم خبر شوي چې دوي غواړې د کابل په ښار د سړکونو او پیاده لارو څخه د امنیتي موانع د لېرې کولو غوښتنه کړې. د هرې پریکړي پلې کول پرته له شکه د حد اقل عملیاتي امنیتي معیارونو د کچې سازش او ګذشت غواړي.

**نهم:  سپارښتنې**

۶۰.  تر ۲۰۱۴ کال پوري د امنیتي لېږد له تهور څخه ډک زماني چوکاټ ټولو پروسو سره مرسته کړي او اوس په افغانستان کې سیاست ته یې هم خوځښت ورکړي. زه د افغانستان د حکومت د موقف څخه چې په حکومتداري، پراختیا او د قانون حاکمیت کې پرمختګ د با ثباته امنیتي لېږد لپاره اړین دې، په بشپړ ډول ملاتړ کوم. دا ټول یو بل سره تړلي دې - د حکومت پر نهادونو باندي باور او زیات هوساینه د تیکاو د رامنځته کولو او تنفیذ لپاره مهم دې – او پر یو هر اړخیز تګلاري باندي عمل کول کولي شي د سولې د پروسي لپاره چاپېریال رامنځته کړي چې حقونه تظمین او د ټولو افغانانو ارزوګانو ته ځواب ورکړي. که څه هم اوس مهال په بیلابیلو مسیرونو کې دا ډول پروسې تر سترګو شوي.

۶۱.  په ۲۰۱۱ کال کې د بن کنفرانس د افغانستان او نړیوالو شریکاتو ترمنځ تر ۲۰۱۴ کال او تر هغه وروسته لسېزه کې د دوامداره مشارکت اطمینان اماده کړي. په نږدي وختونو کې د دوه اړخیزو ستراتیژیک مشارکت پیمانونه لاسلیک کول په دغه مسېر کې یوه ډیره مهمه پیلامه ده. سترې ژمنې چې په واضح ډول تعریف شوي، اوس د پلان جوړولو او د خلکو د اعتماد د پیاوړي کولو لپاره مهم او مُمِد دې. نه پیشبیني کول د بې ثباتي او بې اعتمادي ګواښ رامنځته کوي، څرنګه چې په نږدي تېر

وخت په رسنیو کې د ژمنو په غبرګون کې تجربه شو، دا ډول وښودل چې ګوا کې د نړیوالو ځواکونو ژر وتل د هوکړه شوي زماني چوکاټ څخه د مخکې وتلو په معنا دی.

۶۲. د افغانستان د امنیتي ځواکو جوړښت او د هغه ملاتړ د افغانستان په اړوند د ناتو د هیوادونو په سرمشریزه غونډه کې چې د ۲۰۱۲ کال د مې په میاشت په شیکاګو دایریږي، تر بحث لاندې به ونیول شي. د ځواکونو پر اړتیا باندې ګډ توافق باید د تر سره شویو ژمنو د سرچینو سره مطابقت ولري. په داسې حال کې چې په کومو ځایونو کې چې د افغان ځایي پولیس په کار پیل کړي د لا ښه امنیت راپورونه رارسیږي، خو په ورته حال کې د ملکې وګړو په وړاندې د بشري حقونو سرغړونې هم مستند شوي دې. زه هم د افغانستان د حکومت ورته نظر لرم چې دا ډول امنیتي نوښتونه باید د حسابورکوونې، قوماندې او کنټرول ښکاره جوړښتونه ولري چې دوي د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ارګانونو سره، په ځانګړي ډول د افغانستان ملي پوځ او ملي پولیس، سره نښلوي.

۶۳. د مالي سرچینو ستونزې هم باید له پامه ونغورځول شي، په ځانګړي ډول د نړیوال اقتصادي چاپېریال په پام کې نیولو سره. د دغه ممکنه مالي تشې ته د رسیدګې اړتیا د دې لامل شوي چې د افغانستان حکومت د سمون نویو تعاملونو ته مخه کړي تر څو خپل کلیدي دندي پیاوړي او د پرمختګ یو لا زیاته باثباته لاره ډاډمنه کړي. د کابل د پروسې ژمنې او د ملي لومړیتوب پروګرامونه د نړیوال تعامل لپاره د لارښود پالیسګانې په ډول شتون لري چې پر متقابل حسابورکوونه، د بودجې له لاري ملاتړ، لا زیات معقول تسلسل او په بشپړ ډول د افغانانو تر مشري لاندې د پراختیا او حکومتوالي پر اجنډا باندې ټینګار کوي. د افغانستان په اړوند د توکیو راتلوونکې کنفرانس چې د ۲۰۱۲ کال د جولاي په میاشت کې جوړیږي، د دې ښکارندوي دی چې پر ۲۲ ملي لومړیتوب پروګرامونو باندې تمرکز وشي او د هغو مرحله وار پلې کول، او همدارنګه د مخدره توکو په وړاندې د مظبوطې مبارزې سمت ورکول، ډاډمن کړي. د مالي ثبات د زیات اندېښنې او د بودجې د بلقوه تشو په پام کې نیولوسره، حکومت په سمه توګه، د یو کلیدي لومړیتوب په ډول، پر اقتصادي پراختیا باندې ټینګار کړي دی. د دغو بحثونو سره، ملګري ملتونه اعلان کړي چې حکومت او ډونران دواړه پر بشري پراختیا او ټولنیز اساسي خدمتونو باندې، هغه اجزاوي چې د ټولنیز برابرې او پیاوړي ثبات لپاره اصلي عنصرونه دې، دوامداره پانګونه ډاډمن کړي. د ولایتي بیارغوونې د ټیمونو د وتلو سره د مرستو تشې خوندیتوب او د حکومت نهادونو ته د دغو دندو سپارل روښتیا ته اړتیا لري.

۶۴. افغانستان یو له هغو هیوادونو څخه دی چې د کافي پراختیا د کمښت سره مخ دی او دوامداره جګړه، پر له پسې طبیعي ناورینونه، د وچکالي، ډیر یخ ژمی، زلزله او سیلابونو په ګډون، ناوړه وضعیت نور هم تشدید کړي. د بشرپالنې پر مرستو باندې د اتکا د کړی ماتولو لپاره د لا زیاتو مصیبتونو پر مخنیوي باندې تمرکز او همدارنګه د بېرته راستنیدونکو د بریالي ادغام لپاره د دوامدارو حل لارو موندل او د داخلي بېځایه شویو کسانو وضعیت ته رسیدګې ته اړتیا لري. دغه کارونه د حکومت او پراختیایي فعالینو په واسطه د لومړني اغیزمن او همغږه شوي مرستو ته لاسرسي او ګټه ور وړاندې کولو ته اړتیا لري، او د دې ډاډمن کول چې د کلیوالي پراختیا، ښاري پلانګزاري او د کورنو جوړول، او همدارنګه د مالکیت حقونه په ډول مسایلو ته په کافي اندازه رسیدګې وشي.

۶۵. په دې خاطر چې بشري وضعیت ته په سمه توګه رسیدګې وشي، زما ځانګړی استازي د خپل مرستیال له لاري چې په ورته حال کې مقیم ناظم/د بشري مرستو همغږه کوونکې او د هیواد په کچه د بشري مرستو د ټیم مشر دی، افغان چارواکو

او د بشري مرستو فعالینو سره خپل ګډ کار ته دوام ورکوي چې بېوزلې کسانو ته لاسرسي لا پسې ښه کړي او د دوي اړتیاو ته رسیدګې وشي، او تبلیغ وکړي چې ټول خواوي باید د بشري مرستو عمل او د مرستو د رواندي کولو اصولو ته درناوي وکړي.

۶۶. د افغانانو خوځنده مشري چې د استانبول د پروسې سره سم د سېمه ییز اعتماد رامنځته کولو د تدبیرونو هوکړې ته د رسیدلو په هڅو تر سترګو شوي، د ستاینې وړ دی. د وزیرانو راتلونکې کنفرانس چې د ۲۰۱۲ کال د جون په میاشت په کابل کې جوړه شي، پر هغو هڅو باندې مرکوز وي چې د سېمه ییز موجوده میکانیزمونو کې لا زیات معقول تسلسل ډاډمن کړي. پیاوړي کړاي شوي سېمه ییز امنیت او همکاري کولاي شې په پراخه پیمانه د ټیکاو د هڅو لپاره د لا ښه چاپېریال د رامنځته کولو سره مرسته وکړي.

۶۷. هغه صمیمې چاپېریال چې د ملې شورا په ۱۶ دورې د پرانېستلو پر مهال تر سترګو شو د ذکر وړ دی. د ولسمشر کرزي ژمنه چې په نږدې وخت کې د حکومت اساسې خطوط وړاندي کوي او د جنوري په میاشت کې د کابېنې ۹ تنه نوماند وزیران ولسې جرګې ته استول، د دولت د بیلابیلو نهادونو له خوا د اساسې قانون د احکامو د تایید څرګندوي دی. د اجراییه او مقننه ځواکونو تر منځ نښې اړیکې کولاي شې مرسته وکړي چې د ملې شورا دغه دوره یوه عالي دوره وي، چې د مقننه ډک اجنډا سره کار وکړي او د افغان وګړو په ژوند کې یو حقېقې بدلون رامنځته کړي.

۶۸. د افغانانو تر مشرې لاندې د سولې د پروسې او د هغه بلقوه پایلې او ممکنه ډولونو په اړوند د ودې په حال کې ملې بحث ډېر رغنده دی، خو په سیاسي چاپېریال کې، په دغه ډګر کې د هڅو د نه روښوالې او په پروسه کې د عام شمولیت نشتون په اړوند اندېښنې ترسترګو شوي. په یو دریم هیواد کې د طالبانو د دفتر د پرانېستلو د پلان پر سر د نه مشورو له امله یو لړ رسمې شورماشور لیدل شوي، او د مدنې ټولنو سازمانونه اندېښنه لري چې د سولې تړون د تېرو لسو کلونو لاسته راوړنې سره معامله ونشي. د سولې د عالې شورا د مشرتابه د دندو پر سر باندې پر له پسې بحث کولاي شې مخ په وړاندی لاره معلومه کړي او په موجوده پروسه کې د لا زیات عام شمولیت ډاډمن کړي.

۶۹. ملګري ملتونه او د افغانستان یو زیات شمېر نړیوال شریکان د یو داسې پراخ بنسته او عام شموله د سولې پروسې پر ملاتړ باندې ټینګار کوي چې د تېري لسېزې لاسته راوړنې درناوی وکړي کوم چې د دوامداره سولې او پیاوړې ملې پیوستون لامل ګرځي. بشري حقونه، د ښځو او ماشومانو د حقونو په ګډون، او نړیوال الزاماتو ته باید د خنډ په ډول نه بلکې د دې پروسې د مهمو اجزاو په ډول ولیدل شي. په دغه پړاو کې ټول خواوي کولې شې د سولې د پروسې په مسېر پرمختګ، د ملکې تلفات او د ملکې وګړو څخه د ناوړه ګټې اخېستنې د کمولو په اغیزمن اقدام سره، نور هم پیاوړي کړي.

۷۰. د امنیت شورا د خپل ۱۹۷۴ (۲۰۱۱) ګڼه پریکړه لیک کې زما څخه وغوښتل چې په افغانستان کې د یوناما د ماموریت پر هر اړخېز فعالیت او د ملګرو ملتونو پر ملاتړ باندي یوه کره کتنه وکړم تر څو دغه شورا سره مرسته وکړي چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ په میاشت کې د یوناما پر ماموریت باندي غور وکړي. په ورته حال کې د افغانستان د حکومت د بهرنیو چارو وزیر زلمی رسول هم د یو لیک په ترڅ کې زما څخه غوښتلې چې پر ماموریت باندي بیا کتنه وشي او ما په کلک باور سره هغه ته وویل چې دا ډول یو اقدام سازمان ته دا فرصت په لاس ورکوي چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کورنې

فعالیتونه لا پسې همغږه او اصلي مسیر کې روان کړي او د یوناما ماموریت د هغه د جوړیدو څخه ۱۰ کاله وروسته یو ځل بیا واضح او د هیواد د جارې حقایقو سره آشنا کړي.

۷۱. د افغانستان د حاکمیت او د تېرو ۱۰ کلونو په موده کې د لاسته راوړنو د بشپړ تایید سره، د افغانانو تر مشري لاندې د سولې د پروسې د ملاتړ لپاره باید د نیکو هڅو او سیاسي پوهاوي، په ملي او ولایتي کچو کې، د یوناما د سیاسې ماموریت اصلي زړی باندې بدل شي. په دغو هڅو کې باید په سیمه ییزه کچه کې د همغږۍ د رامنځته کولو، د پخلاینې او مصالحې هڅې شامل وي چې همدارنګه وکولای شي د افغانانو تر مشرۍ لاندې نورو سیاسي پروسو ته وغزیږي او د هغو د عام شمولیت او همدارنګه د افغان موسساتو د عام شمولیت سره مرسته او ملاتړ وکړي. همدارنګه افغان او نړیوال همکاران ټېنګار کړي د افغان ټولټاکنو نهادونه په پر له پسې توګه د ظرفیت د زیاتولو ته اړتیا لري چې د ټولټاکنو راتلونکې پروسې روښوالي ډاډمن شي. څرنګه چې د افغانانو تر مشرۍ لاندې په نورو پروسو کې تر سترګو شوي، یوناما تل تیار دی چې د افغانستان د حکومت په غوښتنه، د ځایي موسسو د پیاوړي کولو په موخه کار وکړي چې د اساسي قانون له خوا ورکړې شوي صلاحیتونه او دندې په اغیزمن ډول سره بشپړ کړي.

۷۲. له مخکې د یوناما او د ملګرو ملتونو کار په پراخه پیمانه، د بشري حقونو پر تحفظ او ترویج او د ټولو افغانانو د بشري حقونو پر تامین، په راتلونکې کال او د هغه وروسته کلونو په رڼا کې، د ملکي کسانو د خوندیتوب اړوند موجوده موضوع ګانو، د ځایي امنیتي ترتیباتو اړوند اندېښنې، په منځ مهاله او اږد مهاله مودو کې په اقتصادي او ټولنیز حقونو کې د پرمختګ امکان، او د سولې په مسله کې د افغان نارینه، ښځو او ماشومانو د حقونو خوندیتوب، ګټې او ارزوګانې په ګډون، چې د یوناما د ماموریت مرکزي اهداف جوړوي، باندې مرکوز دې.

۷۳. د ماموریت لپاره د حکومت د انکشافي اجنډا او پروګرامونو تر شا د نړیوال ملکي معقول تعامل ته وده ورکول، د یو لومړیتوب په ډول پاتې دی. په شېکاګو او توکیو کې د افغانستان د حکومت او د هغه د نړیوالو همکارانو له خوا متقابل ژمنې چې په ۲۰۱۱ کال د بُن په کنفرانس کې تعریف شوي دې، د کابل د پروسې او د امنیت د مسولیت د لېږد په پروګرامونو کې د ټیکاو او بریالېتوب ضمانتوي. یوناما باید خپل کار ته، د څارنې او همغږۍ د ګډ بورډ د ګډ ریاست له لارې په ګډون، د دغه هدف د تر لاسه کولو لپاره د افغانستان د حکومت د هڅو ملاتړ ته دوام ورکړي.

۷۴. د همدې ملاحظاتو پر بنسټ چې په لومړي سر کې په زیاته پیمانه د افغان حکومت د استازو او د شورا د غړو سره د بیا کتنې پر مهال تر سره شو، زه سپارښتنه کوم چې د یوناما ماموریت چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۲۳ نېټه پای ته رسیږي د ۱۲ نورو میاشتو لپاره تمدید شي. یوناما خپله اغیزمنه ونډه د افغانستان لپاره د نړیوالې ټولنې د ملاتړ په جلبولو کې ترسره کړې او دغه کار ته دوام ورکوي. د امنیتي مسولیت د لیږد انتقال، هغه پرمختګونه کوم چې په تېرو کلونو کې تر لاسه شوي او د ۲۰۱۲ کال لپاره د افغانستان سیاسې او انکشافي اجنډا باید د ماموریت لپاره او د هغه عملیاتي فعالیتونو لپاره څرنګه چې پورته وویل شو، لارښود شي.

۷۵. د ماموریت نور مواد کوم چې د امنیت شورا په ۱۹۷۴ (۲۰۱۱)ګڼه پریکړه لیک کې ترتیب شوی دې او پخوانې پریکړه لیکونه باید د یوناما د کار د لارښود په ډول دوام ورکړي. په دغه اړوند او د دې خبرې په یادولو سره چې یوناما یو

واحد ماموريت دی، د ملګرو ملتونو د اړوندو موسسو ماموریتونه او د اړوند غړي تخنيکي اهليتونو، چېرته چې ممکنه وی ترې ګټه واخیستل شي او په ځانګړي ډول پر دې باندې ټينګار لري چې د افغان حکومت نهادونه منسجم او ځواکمن شې تر څو د افغان وګړو لپاره خپلې دندې تر سره کړي.

۷۶. د دندو عملي پلې کول باید په ولایتي کچه د دوي د دوامداره شتون له لاري بشپړ شي، چې په هغه کې د کارکوونکو اندازه او جوړښت زما د ځانګړی استازی له خوا، په اصلی ډګر کې د ماموريت د فعالیتونو او اړتیاو د اروزني پر بنسټ، او د فعالیتونو د ترسره کولو لپاره د دوي د ظرفيت او اهليت چې دغو اړتیاو ته ځواب ورکړي او همدارنګه د امنيت او ملاتړ د غوښتنو سره سم وي، تعيين او مشخص شي.

۷۷. په پای کې زه د خپل ځانګړی استازی یان کوبیش ته د جنورې په ۱۷ نېټه کابل ته د هغه د رسیدو له امله مبارکي وايم. په افغانستان کې د هغه په دویمه ورځ، ښاغلي کوبیش د ولسمشر کرزی له خوا په ګرمي سره ومنل شو. ښاغلي کوبیش هلته د افغان او نړیوالو همکارانو سره یو پیاوړي بنسټ ابېردي. زه همداراز په تکرار سره غواړم د ملګرو ملتونو د داخلي او نړیوالو کارکوونکو څخه د هغو د دوامداره وقف، په یوه ډېر سخت وضعيت کې، مننه وکړم چې د افغانستان د خلکو لپاره د خپل ژمنو د سرته رسولو لپاره کار کوي.

ضمیمه

د معیارونو په مقابل کې پرمختګ

لومړی: امنیت

**معیار: با ثباته افغان امنیتي نهادونه او ځواکمنې پروسې چې کولای شي سوله او ټیکاو تامین کړي او د افغانستان خلک خوندي کړي**

| د پرمختګ شاخصونه | متریکسونه |
|---|---|
| د ملي پولیس او ملي پوځ د روزل شوي او فعال پرسونل، د توافق شوي جوړښت مطابق، په شمېر کې زیاتوالی | • په ۲۰۱۲ کال کې د ملي پوځ او ملي پولیس شمېر، په ترتیب سره، ۱۹۵۰۰۰ او ۱۵۲۰۰۰ تنه پرسونل ته ورسیږي.<br>• د ملګرو ملتونو د پراختیا پروګرام د پولیس د انځور سروې ښیي چې د پولیس په ځواک باندي د وګړو اعتماد په ۲۰۱۰ کال کې ۴۶ سلنې ته پورته شوي چې دغه فیصدي په ۲۰۰۹ کار کې ۳۴ سلنه و. |
| د افغان امنیتي ځواکونو تر مشري لاندي د مسولیت لیږد په مرحله وار او د شرایطو پر بنسټ په پلان کې پرمختګ او وده | • د لېږد په سېمو کې لومړي او دوهم پړاو انتقال د ولسمشر کرزی له خوا د ۲۰۱۱ کال د مارچ په ۲۲ او د نومبر په ۲۷ تایید شو او د انتقال د پلانونو پلې کول پیل شوي. |

دویم. سوله، بیا ادغام او مصالحه

**معیار: ملي ډیالوګ او سېمه ییز تعامل چې رغنده او عام شموله پروسه وهڅوي تر څو د سولې په ګټه سیاسي چاپېریال پیاوړی کړي.**

| د پرمختګ شاخصونه | متریکسونه |
|---|---|
| د سولې، بیا ادغام او مصالحې د هڅو د پیاوړی کولو پخاطر د ملي او سېمه ییز پروسو طرحه او پلې کول | • د ۲۰۱۱ کال د نومبر د میاشتې لویه جرګه د خبرو اتر پر دوام باندي توافق وکړ.<br>• د ۲۰۱۲ کال د جنوری تر میاشتې پوري ۳۳۵۴ تنه د دولت مخالفین د افغانستان د سولې او بیا ادغام پروګرام کې نومونه ثبت کړي او ۴۴۲ تنه نور د پروسس په حال کې دي. |

| | |
|---|---|
| | • د ۲۰۱۲ کال د جنوری د میاشتې پورې، ۱۵۷.۵ میلیون امریکایي ډالر د افغانستان د بیارغونې په وجهې صندوق کې راټول شویدې. د پلې کیدو په حال پروګرام کې دا شامل دي: (الف) په څلور وزارتونو کې د همغږي ځانګې رامنځته کول؛ (ب) د ماین پاکولو د دوو پروژو پیل چې د بغلان، قندوز او هرات ولایتونه تر پوښښ لاندي نیسي، او د بادغیس په ولایت کې د مسلکي روزنو یو پروګرام؛ (ج) د ورو بلاعوض مرستو پروګرام رامنځته کول، د ۲۷ تایید شوي پروژو سره (د) او د ملي پیوستون د پروګرام له لاري د ۱۶۰ پروژو پلې کول. |
| د افغان چارواکو پیاوړي توان چې د امنیت شورا کمېټې ته چې د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) ګڼې پریکړه لیک پر بنسټ رامنځته شوي تایید شوي، کره او تازه معلومات تیار کړي. | • په ۲۰۱۱ کال کې د افغانستان حکومت دغه کمیټې ته معلومات وړاندي کړ چې د تعزیراتو د لست څخه د طالبانو د ۱۵ تنو د نومونو د ایستلو لامل شو. |
| دسولې د پروسې څخه، د ځایي په کچه او د مدني ټولنو له لاری پراخ ملاتړ | • دوه نور د سولې ولایتي کمېټې رامنځته شوي، چې ټول شمېر ۳۰ کمیټو ته ورسید. ۲۹ ولایتي ګډ دارالانشا ټیمونه رامنځته شوي چې د افغانستان د سولې او بیا ادغام پروګرام پلې کړي.<br>• د بیا ادغام په پېښو کې د افغانستان په سهیل سېمه کې د افغانستان د سولې او بیاادغام د پروګرام په هکله، په لوړه کچه، د کنفرانس جوړیده و چې په ملي او ولایتي کچو کې جوړ شول. په دغه پېښو کې د سولې عالي شورا او د افغانستان د سولې او بیا ادغام پروګرام ګډ سکرتریت هم ګډون درلودل.<br>• د سولې د عالي شورا رسمې لیدنې په ټول افغانستان کې تر سره شوي او همدارنګه د جرمنی، هندوستان، اندونیزیا، ایران اسلامې جمهوریت، ناروې، پاکستان، ترکیه، ترکمنستان او متحده عربی اماراتو ته هم رسمې سفرونه کړي.<br>• د ښځو د ځواکمنتیا او د جنډر د مساواتو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر، (د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر) په افغانستان کې سولې او بیا ادغام د پروسې لپاره د ۲۰۱۲ کال په کاري پلان کې د جنډر د پالیسې د تایید لپاره تخنیکي مرسته برابر کړي. |

## دریم.    حکومتداری او د نهادونو جوړول

**معیار: د دیموکراتیک، مشروع، حسابورکوونکې نهادونو له لارې په ټېټو ځایي کچو کې د حکومت صلاحیت غځول چې د پالیسۍ ګانو د پلې کولو وړتیا ولري او د خپل دوام او ثبات لپاره په پراخه پېمانه ځواکمن وي**

| *د پرمختګ شاخصونه* | *متریکسونه* |
| --- | --- |
| د افغان چارواکو زیاتشوي توان او د ټولټاکنو خپلواک نهادونه چې وکولاي شي اصلې او دوره ټاکنې تر سره او مدیریت کړي او په اساسي قانون کې د ښځو لپاره د تظمین شوي سهمیه برخه اخیستنې تا پام وساتې | • د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون تجربه شوي فعالیتونه په عمل کې پلې کړي، یو ستراتیژیک پلان، د ظرفیت پراختیا، روزنیز پلان طرحه، او د داخلې طرزالعمل پیاوړی کولو او واضح کولو باندې کار پیل کړي دی.<br>• د ایلیکټ دویم پروژه د ۲۰۱۱ د دسمبر په میاشت کې پیل شوه. دغه پروژه د نورو موضوعاتو تر څنګ، د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون په مرستې سره د ټولټاکنو په نهادونو کې د ټاکنو تر منځ دوره کې، د ظرفیتونو د زیاتوالې باندې کار کوي تر څو بنسټیز تخنیکې ظرفیتونه، په راتلونکو ټاکنو کې د رایو د ثبت ولو ډولونه او لیرې پرتو سېمو ته لاسرسی باندې تمرکز وکړي چې ګډون نور هم پراخ شي. |
| د څارنې او ارزونې د کمېټې رامنځته کول او د اداري فساد په وړاندې د مبارزې معیارونه طرحه کول | • د څارنې او ارزونې کمېټه رامنځته شو، نړیوال او داخلې استازي وټاکل شول، او اداري فساد ته د رسیدګې په خاطر په ملې کچه ۶۰ معیارونه طرحه او په لومړیتوب کې شامل شول. |
| د اداري فساد په وړاندې د مبارزې نهادونو ځواکمن کول تر څو وکولای شي دفساد په وړاندې د حکومت ټولیز کړنلاره وڅاري | • د څارنې عالې اداره رامنځته شوه او د فساد په وړاندې د مبارزې په اړوند د حکومت د عمل پلان همغږي شو. په ټولیز ډول ۵۴ وزارتونه، اداري او د ټاکنو نهادونه چې د اداري فساد په وړاندې خپل د عمل پلان په ۲۰۱۱ کال کې ترتیب کړي و، د هغه د جمعې څخه ۴۸ پلانونه د څارنې د عالې اداري له خوا تصویب شول.<br>• ملې شورا د تفتیش قانون باندې کتنه تر سره کړي چې په دې کار سره د تفتیش او کنټرول عالې اداری خپلواکې ډاډمنوي. |
| د دولتي چارواکو د دارایګانو کلنۍ ثبت او نشر | • د ۳۸ دولتي نهادونو کابو ۲۵۰۰ تنه ستر چارواکې (۵۰۵ تنه زیات) خپل دارایګانې ثبت کړیدې. دغه موندنې د ملې رسنیو له لاری خپور شوي دې. |
| په مرکزي، ولایتي او ولسوالي په کچو کې د ملکي کار کوونکو د وړتیا زیاتوالی تر څو وکولای شي خپل دولتي خدمتونه وړاندې کړي | • د افغانستان د ملکي خدماتو انستیتیوت د ملکي خدماتو ۲۹۰۰ تنو کارکوونکو ته د دندو روزنیز پروګرام وړاندې کړی دی چې په هغه کې د |

| | |
|---|---|
| د ملکي کارکوونکو د کارګمارنې په پروسه کې پراخ او اغیزمن رونوالی | کابل څخه ۲۰۰ تنه او د ولایاتو څخه ۴۰۰ تنه د پوهنتون فارغین پې د کار زده کړي (انترنشیپ) په پروګرام کې ثبت کړي دې.<br>• د ځايي ارګانونو د خپلواک ریاست والیان او ولسوالانو ته د دندو لایحه جوړ کړي. |
| د ملکي خدماتو د سمون پیاوړتیا چې د وړتیا د رامنځته کولو د هراړخیز کړنلارې او د ډونرانو د مالي مرستو له لارې د تخنیکي مرستو په ملاتړ چمتو شوي | • د عامه اداری سمون د پروسي پر بنسټ، ۱۷د ولایتي مرستیال والایانو او ۲۴۳ والسوالانو خالي بستونه د سیالۍ لپاره اعلان شوي او ۱۶ ولایتي مرستیال والیان او ۸۶ تنه ولسوالان په رسمي ډول په کار ګمارل شوي دې.<br>• نړیوال بانک،د ملکي خدماتو د اداري سمون خپلواک کمیسیون او د مالېي وزارت د وړتیا د رامنځته کولو پېنځه کلن پلان باندي هوکړې ته رسیدلي چې د ستر او منځنۍ ملکي کارکوونکو د وړتیا پراخول او د پایلو میکانیزم لپاره دی. |
| د ولایتي حکومتداري پالیسي پلي کول او په ولایتي کچه د مالي او بودجوي کاری چوکاټونه تنظیمول | • د ملکي خدمتونو د وجهې صندوق د رامنځته کولو لپاره تیاري چې باثباته ملکي خدمت ته انکشاف ورکړي او د ډونرانو له خوا تمویل شوي نور پروګرامونه چې پیل شوي، بشپړول.<br>• د اړوندو ریاستونو لپاره د ولایتي بودجې جوړول پالیسي چې ولایتي بودجه ترتیب کړی د ځايي اداري د خپلواک ریاست او مالیي وزارت له خوا طرحه شوي او په پېنځه ازمایشي وزارتونو کې، د ټولو ۳۴ ولایتونو په اړوند ریاستونو کې، تجربه/ازمایښت شوي دې.<br>• د ځايي ادارو قانون د ځايي اداري د خپلواک ریاست له خوا نهایي او د عدلیي وزارت ته استول شوي دی.<br>• اطلاعاتو ته د لاسرسي حق قانون د ځايي ادارو د خپلواک ریاست له خوا مسوده او د اطلاعات او کلتور وزارت ته استول شوي دی.<br>• د ولایتي شوراګانو اساسي دندې د ولایتي شوراګانو د نوي قانون په مسوده کې شامل شوی دی. |
| د اداري واحدونو د پولو لپاره د معیارونو طرحه او خپرول | • ۲۲ ولایتي پراختیایي پروژۍ بشپړ شوي دې، د عوایدو د لا ښه کولو په خاطر په ۳۱ مادو کې د عمل پلان ترتیب او پلي شوي دی، چې په ښه توګه په ځايي کچه پلان جوړونه او بودجه جوړونهپیاوړي کړي. |

| | |
|---|---|
| د حکومت د نهادونو د فعالیت لپاره د کافي زیربناو رامنځته کول، په ځانګړی ډول په ولایتي کچه | • د ځایي ادارو خپلواک ریاست د جیودوزی او کارتوګرافی د اداري سره په ګډه د ولسوالي د چاروا‌کو څخه غوښتنه کړي تر څو د خپل اړوند ولسوالي د پولو په اړه معلومات وړاندي کړي. په ۲۰۱۱ کال کې څلور ولایتونه د خپل اړوند ولسوالیو د پولو په اړه معلومات بشپړ او استولي دي. |
| د با اعتباره او د لاسرسي وړ عدلي او جزایي سیستمونو رامنځته کول چې د ټولو اتباعو بشري حقونه وساتي او درناوی وکړي | • په ۲۹ ولایتونو کې د اداري تعمیرونو بیارغول.<br>• په پېنځه ولایتونو کې د ولایتي شوراګانو لپاره تعمېر جوړول.<br>• په ۴۶ ولسوالیو کو د ولسوالي د شورا د دفتر تعمیر جوړول.<br>• په پېنځو ولسوالیو کې د ۱۰ ابتدایي محکمو د دفترونو جوړول او یا بیارغول.<br>• د جزایي اجراتو د قانون مسوده د وزیرانو د شورا له خوا وکتل شو.<br>• د قانون او عدالت د ټولو لپاره دري کلن ملي لومړیتوب پروګرام د اوړد بحث څخه تیر شو او د ۲۰۱۲ کال د څارنې او همغږی د ګډ بورډ د ناستې لپاره تیار دی.<br>• د عدلیي وزارت د حقوقی مساعد دفترونه د ۱۹ دفترونو څخه په ۲۰۱۰ کال کې، په ۲۰۱۱ کال کې ۲۶ دفترونو ته زیات کړي. د ۲۰۱۱ کال د نومبر تر میاشتې پوري د عدلیی وزارت د حقوقی مساعد کوونکو شمېر ۹۷ تنو رسیږي. ۳۵ تنه نور حقوقدانان د عدلیی وزارت د حقوقی مساعد دفتر ته، د افغانستان د بیاجوړولو د وجهي صندوق د عدلي سکتور د سمون د پروګرام له لاري تیار شوي.<br>• د غیر دولتي موسسو له خوا د حقوقي مرستو اماده کول زیات شوی چې په ۲۰۱۰ کال کې د حقوقی مساعد حقوقدانان ۱۹۰ تنه وو چې اوس مهال کابو ۲۵۰ تنو ته رسیږي.<br>• د افغانستان د مدافع وکیلانو په خپلواکه ټولنه د ثبت شوي حقوقدانانو شمېر په ۲۰۱۰ کال کې ۹۲۸ تنه وو چې د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په میاشت کې دغه شمېر ۱۱۵۰ تنو ته ورسید. |

| | |
|---|---|
| | • د وزیرانو شورا د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په میاشت کې د لوي څارنوالۍ د دفتر لپاره د رتبې معاش د بستې سمون تایید کړ.<br><br>• د جنوری په ۱۰ نېټه د عدلیې وزارت په رسمې ډول د محبسونو مرکزی لوی ریاست، د ولسمشر د ۲۰۱۱ کال د دسمبر د ۱۷ نېټې د فرمان پر بنسټ، د کورنیو چارو وزارت ته وسپارل. د ملګرو ملتونو د همکارانو او نورو برخه والو سره، د یوناما دفتر د دې خبرې ملاتړ کوي چې دغه ریاست په دغه تشکیل سره پاتې شي او په مستقیم ډول د کورنیو چارو وزیر ته راپور ورکړي او د ملي پولیس او نورو ریاستونو څخه خپلواک وي. د کورنیو چارو وزیر په دغه اړوند خپل ژمنتیا یو ځل بیا تکرار کړ. |

**څلورم.  بشری حقونه**

**معیار: د افغان وګړو د بشری حقونو لا پسې ښه درناوی، چې د اساسي قانون او نړیوال قانون مطابق وي، په ځانګړي ډول د ملکي کسانو د خوندیتوب، د ښځو او نجونو وضعیت، د بیان پر ازادی او د قانون د حاکمیت پر بنسټ حسابورکونې باندي ټېنګار وکړي**

| د پرمختګ شاخصونه | متریکسونه |
|---|---|
| د اړوندو فعالینو له خوا د نړیوال قانون د رعایت کولو له لارې، ملکي کسانو ته د ګواښ او د ناقانونه ځواک د کارولو په پېښو کې کمښت  کاهش | • په ۲۰۱۱ کال کې ټولټال ۳۰۲۱ ملکی کسان د جګړو اړوند په پېښو کې وژل شوي چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۸ سلنه زیاتوالې ښیی. د دولت مخالف ډلې د ۲۳۳۲ وژنو مسولیت په غاړه لري چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۱۴ سلنه زیات شوي. حکومت پلوه ځواکونه د ۱۴ سلنه ملکي کسانو د وژنو مسولیت په غاړه لري چې د ۲۰۱۰ په پرتله ۴ سلنه کمښت ښکاره کوي.<br><br>• آیساف، د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د کمښت په موخه،  دوه عامه تاکتیکې امریې صادر کړي چې په هغه کې د شپې له خوا چاپېز عملیات پکې شامل دی، او دوه نور داخلې دایرکتیفونه، د کاروانونو د خوندیتوب او طبې مرکزونو ته د ننوتو په اړوند، صادر کړي چې د ایساف له خوا د عام وګړو د خوندیتوب سره مرسته او د ملکي کسانو په تلفاتو کې کمښت لامل کیږي. |

| | |
|---|---|
| | • طالبانو هم یو شمېر عمومي اعلامیې صادر کړې چې په هغه کې ژمنه کړې چې د خپل عملیاتو په جریان کې د ملکي وګړو خوندیتوب ډاډمن کړي. |
| د افغان وګړو او په حکومت کې، په ترتیب سره، د خپل حقونو او مسولیتونو په اړوند پوهاوی بهتر شوي | • یوناما خپل د څارنې او دادخواهی کار ته دوام ورکړی چې په هغه کې هڅه کوي چې د بشري حقونو نړیوال قانون او د بشرپالنې نړیوال قانون په اړوند عامه پوهاوی زیات کړي.<br>• یوناما د ملکي کسانو د خوندیتوب، د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون د پلي کولو، د حکومت په توقیف خانو کې د بندیانو سره چلند او د سولې په اړوند د افغان وګړو د ډیالوګ د تسهیل او د نورو همکارانو او رسنیو د فعالیتونو او دادخواهی په اړوند پېنځه راپورونه خپور کړي، چې په عام وګړو کې د بشری حقونو د اندېښنو په اړوند پوهاوي زیات کړي.<br>• د حکومت/ملګري ملتونو د عمل پلان چې موخه یې د کم عمره هلکان په کار ګمارل، جنسي تاوتریخوالې او د ماشومانو د وژلو او معیوبولو مخنیوي دی، د ۲۰۱۱ کال د جنوری په ۳۰ نېټه لاسلیک شو او د اړوندو وزارتخانو تر منځ، د ماشومان او وسله واله جګړه، تخنیکي کارې ډله رامنځته شو.<br>• د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتو له خوا د کم عمره هلکانو د په کار ګمارنې څخه مخنیوي او د افغان په ملي او دفاعي ځواکونو کې د اړوندو دسپلینې معیارونو د پیاوړي کولو په اړوند، دري امرېې صادر شوي دې. |
| د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتریخوالې سره د مبارزې په خاطر د حقوقي او پالیسي تدبیرونو لپاره ملاتړ او لا ښه اغیزه | • د عالمانو د شورا له خوا هم، په اسلام کې د ماشومانو د په کار ګمارنې، شکنجه کولو او پر ښوونځیو او شفاخانو باندې د بریدونه د مخنیوي په اړوند د پوهاوي د زیاتولو په خاطر دوه امرېې صادر شوي دې.<br>• د ښځو لپاره د امن خونو د فعالیت لایحه تنظیم او تصویب شو. د ښځو لپاره ملګرو ملتونو دفتر د ښځو د چارو وزارت، ولایتي دفترونه او د مدنې ټولنو د سازمانونو سره، د فعالیت او تنظیم په ډګر کې، تخنیکي ملاتړ اماده کوي، او همدارنګه په ۲۴ ولایتونو کې د ښځو د چارو رئیسانو لپاره روزنیز ناستې دایر کړي دې. |

| | |
|---|---|
| | • د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالی د منع قانون د څارنوالانو له خوا په کافي پیمانه نه دی کارول شوي. اکثراً د ښځو په وړاندي د تاوتریخوالی قضیې د ځایی شخړو د حل د میکانیزمونو له لاری په منځګړیتوب سره حل شوي دي چې د قانون څخه سرغړونه ګڼل کیږي. (په دغه اړوند د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی منع قانون په اوړه د یوناما د ۲۰۱۱ کال راپور وګورئ.) |
| د معافیت په وړاندې مبارزه او د انتقالي عدالت د پر مخ بیولو په خاطر د حقوقي او پالیسې تدبیرونو لپاره ملاتړ او لا ښه پوهاوي | • په هیواد کې د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر، د ښځو په وړاندي دتاوتریخوالی د منع ځانګړي وجهي صندوق د مدیریت کار ته دوام ورکړي. په افغانستان د ښځو د ۱۷ امن خونو څخه ۷ خونې د دغه ځانګړي وجهي صندون له خوا تمویل کیږي. په ۲۰۱۱ کال کې د دغو خونو لپاره ټولټال ۷۴۲۲۴۶ امریکایی دالر ورکړ شوي دې.<br>• د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په افغانستان کې د بشري حقونو د تیریو په اړوند خپل د جګړي اړوند نخشې راپور د ۱۹۷۸ تر ۲۰۰۱ پوري نهایی کړي دی.<br>• د سولې، مصالحی او عدالت لپاره د عمل پلان، د دې باوجود چې د کابل کنفرانس د ژمنو څخه و، تر بیا کتنې لاندي نه دی نیول شوي.<br>• د یوناما په ملاتړ، د مدني ټولنې سازمانونه او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون، د سولې په اړوند د افغان ولس ډیالوګ یې تسهیل کړي چې د سولې، لېږد، د قانون حاکمیت او معافیت په اړوند تر ۱۵۰۰ ځایی خلکو نظریات پوښتلې او تر لاسه کړي دې.<br>• د سولې د ولایتي شوراګانو د اکثریت څخه راپور ورکړ شوی چې د مدني ټولنو ، ښځو او د قربانیانو د ډلو څخه منصفانه استازیتوب نکوي. |
| د نړیوال بشري حقونو د کنوانسیونونو او میثاقونو د راپور ورکولو الزامات او د بشري حقونو د شورا د افغانستان څخه د نړیوال دوره ای بیاکتنې د سپارښتنو د پلې کولو په اړوند د حکومت اجراات | • د افغانستان د سولې او بیا ادغام د پروګرام ګډ دارالانشاء د تذکېې په اړوند د فعالیت معیارې طرزالعمل تایید کړي، خو د ځایی سولې د کمېټو څخه راپور ورکړ شوي چې دوي پخوانې جنګیالیو ته وعده ورکړي چې که چېري دوي د دغه پروګرام سره یو ځای شې دوي د عمومي عفوي څخه برخمن کیږي.<br>• د ماشومانو د حقونو کمېټه، د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون د پلې کولو په اړوند د افغانستان لومړني راپور په پام کې نیولی دی. |

د افغانستان د حکومت د ژمنو د پوره کولو پیاوړتیا او د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون او د بشری حقونه ملي نهادونه پیاوړتیا زیات شوی چې د بشری حقونو درناوی او خوندې او د بشری حقونو ترویج عملي شي.

- د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر د افغانستان د حکومت سره د ښځو په وړاندی د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کمېټې ته د دوره ای لومړنې راپور په تیارولو او سپارلو کې مرسته کړې چې په ۲۰۱۲ کال کې په پام کې ونیول شي.
- د یوناما په تخنیکې مرسته د عدلېې وزارت د بشری حقونو څانګه د عمل یو پلان طرحه کړی چې د افغانستان په اړوند د بشري حقونو د شورا د نړیوال دوره ای بیاکتنې د ۲۰۰۹ کال سپارښتنې پلې کړي.
- د عدلېې په وزارت کې د بشري حقونو څانګه په بشپړ ډول فعال شوي. دغه څانګه د افغان قوانین باندی بیا کتنه وکړ تر څو معلوم کړي د ماشوم د حقونو د کنوانسیون او د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو محو کولو د کنوانسیون سره مطابقت لري او که نه. همدارنګه د بشری حقونو څانګه د حکومت په ټولو وزارتونو کې د جندر تحلیلونه تر سره کړي.
- د څارنې او همغږی ګډ بورد د بشري حقونو او مدنې مسولیتونو په اړوند د ملې لومړیتوب پروګرامونه تصویب کړ. د هغه د پلې کولو دری کلنې پلان طرحه کړي.
- که څه هم د افغان حکومت ژمنه کړی و چې د افغانستان دبشری حقونو خپلواک کمیسیون ته یو ملیون امریکایی ډالر آماده کړي خو د ۲۰۱۱/۲۰۱۲ کلونو نهایي بودجه چې پارلمان ته استول شوي و، خو پارلمان یوازی د دغه پیسو نیمایی تایید کړ او پارلمان ونشو کړای د بودجې په چوکاټ کې د کمیسیون لپاره حقوقی موقف تنظیم کړي.
- د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د خپل نهاد د عملیاتې ظرفیت ارزونه تر سره کړی تر څو راتلونکی انکشافي ظرفیت پیاوړی کړي.
- د ملې امنیت عمومې ریاست د بشری حقونو څانګه فعاله کړی تر څو د توقیف شوی کسانو سره ناوړه چلند او د شکنجې ادعاګانې وڅېړي.

**پېنځم. اقتصادي او ټولنیز پراختیا**

**معیار: د حکومت پالیسېګانې د نړیوال ټولنې له خوا ملاتړ تر لاسه کوي چې با ثباته اقتصادی وده ډاډمن کړي چې د هیواد ټولیز ټیکاو سره مرسته وکړي**

| د پرمختګ شاخصونه | مټریکسونه |
|---|---|
| د ملي لومړیتوب پروګرامونه د نړیوال ټولنې په مرسته طرحه او پلې کیږی | • د ملي لومړیتوب د ۱۲ پروګرامونو له جملې څخه ۱۱ پروګرام د نظارت او همغږي ګډ بورډ له خوا تصویب شوي دي. <br><br> • د حکومت د ۱۰۰ ورځنې راپور ورکولو سیسټم د کال په دوران کې تر ازمایښت لاندې نیول شوي او د ملي لومړیتوب پروګرامونو د عمل پلان په اړوند د تر لاسه شوي پرمختګ د ډونرانو سره شریک شوی. <br><br> • د افغانستان د بیا رغونې وجهې صندوق، د نړیوال مالي صندوق د پروګرام د تایید وروسته د ډونرانو له خوا مالي مرسته تر لاسه کړي چې په بودجه کې دننه د ملي لومړیتوب پروګرامونو ملاتړ په ګډون دی. <br><br> • د ملګرو ملتونو د ښځو دفتر د کلیو د بیارغونی او پراختیا وزارت سره مرسته کوي چې ښځو د اقتصادی خوندیتوب او حقونو په اړوند یو ملي ستراتېژي طرحه کړي او په عین حال کې د وزارت سترو کارکوونکو ته د جنډر او اقتصادي ځواکمنتیا په اړوند یو ورکشاپ دایر کړي دی. |
| په ټول افغانستان کې د پراختیایی مرستو او د حکومت د مصارف عادلانه ویش | • په ۲۰۱۰ کال کې د ولایتي بودجه جوړولو یو ازمایښتي پروګرام تر سره شو تر څو د ولایتونو په کچه د ارزول شوی اړتیاوي په ملي بودجه کې شامل شي. هر ولایت کولاي شي په ۲۰۱۳/۲۰۱۲ مالي کال کې تر ۲،۵ ملیون امریکایی ډالر تر لاسه کړي. <br><br> • د مالیي وزارت په ۱۴ ولایتونو کې د عامه مالي د مدیریت ظرفیت په اړوند یو خپلواکه بیاکتنه ترسره کړي تر څو د بودجې د ښه پلي کولو لاري ومونډې. |
| زیاته مالیه راټول او د افغانستان د سرچېنو پر بنسټ باثباته وده | • په کال ۲۰۱۲/۲۰۱۱ د ملي عوایدو د ټولو کچه په تېرو ۱۲ میاشتو ک ۱۱،۸ سلنه تر خپل ټاکل شوي هدف زیات دی. د مالیي څخه لاسته راغلي عواید د تېر کال په پرتله زیات خو د ټاکل شوي هدف څخه وروسته دی. د ګمرکاتو څخه را ټول شوي عواید د ۲۰۱۱/۲۰۱۰ کال په پرتله هم د ټاکل شوی هدف او هم حقیقي |

| | |
|---|---|
| | عوایدو څخه زیات دی. د مالیې څخه پرته عواید د ۲۰۱۰/۲۰۱۱ د ورته مودې په پرتله د ټاکل شوی هدف څخه زیات و چې اصلی علت یې د عینک د مسو د کان لومړنی قسط تر لاسه شو. لومړنې ډیټا ښیی چې په ۲۰۱۲ کال کې ودهد تېر کال په پرتله (۸.۴ سلنه خو بیا هم پیاوړي) لږ وي.<br><br>• د استخراجي صنایع د شفافیت نوښت چې د زیاتو برخوالو څخه جوړ شوی ډله ده، په ۲۰۱۱ کال کې ۸ ځله ناستې تر سره کړي، او د افغانستان د حکومت له خوا یوه د کنټرول شخصی کمپنې ټاکل شوي چې د اجابت پر له پسې راپورونه تایید کړي.<br><br>• د مدنې ټولنو ډلې د استخراجي صنایع د شفافیت نوښت ډله یېز غړي جوړوي او اطلاعاتو ته د لاسرسی د قانون په مسوده کې عام وګړو ته د کانونو دیټا ته لاسرسي احکام شامل دې. |

**شپږم.      سېمه ییز همکاري**

**معیار: د سولې، ټیکاو او رفاه د ملاتړ په خاطر با ثباته او اغیزمنه سېمه ییز همکاري**

| **د پرمختګ شاخصونه** | **متریکسونه** |
|---|---|
| اغیزمنه سېمه ییزه همکاري او زیات سېمه ییز همکاری | • سېمه ییز همکاری کاری ډله د نړیوال تماس ګروپ له خوا رامنځته شو او د ۲۰۱۱ کال د جون په دریمه نېټه ناسته وکړه او د افغانستان لپاره د ثبات او اقتصادې ودې په اړوند خپل ژمنې بیا تکرار کړل<br><br>• د افغانستان لپاره د استانبول کنفرانس: د اسیا په زړه کې همکاري د ۲۰۱۱ کال د نومبر په ۲ نېټه کې جوړه شوه، چې د هغه وروسته د افغانستان د بهرنیو چارو مرستیال وزیر د اعتماد د رامنځته کولو د ۱۲ تدبیرونو یو محتوایی سند توزیع کړ (۴۳ تدبیرونه د استانبول په کنفرانس کې وړاندي شوي و) چې سېمه ییز همکاری نور هم ژور شي.<br><br>• د ۲۰۱۱ کال د جون په ۱۲ نېټه د افغانستان – پاکستان د ترانزیت تړون عملاً په کار پیل کړ. |

- د افغانستان – پاکستان – امریکا دري اړخیزه ناسته د ۲۰۱۱ کال د مې په ۳ نېټه له سره پیل شو خو د برهان الدین رباني د وژل کیدو وروسته د تعلیق په حال شو.

- افغانستان او هندوستان د مشارکت تړون لاسلیک کړل چې سیاسي، امنیتي همکاري، اقتصادی او سوداګری همکاري، د ظرفیت پراختیا او روزنې، ټولنیز، کلتورې او د مدنې ټولنو اړیکې تر پوښښ لاندي نیسي.

- د روسیي فدارسیون هیواد د شانګهای د همکاری د سازمان د حکومتونو د مشرانو په ۱۰ شورا ناسته کې، د مرکزې اسیا – جنوبی اسیا د برق د انتقال د پروژی سره د ۵۰۰ ملیون امریکایي ډالر ژمنه وکړه.

- د افغانستان پاکستان ګډ اقتصادی کمیسیون په خپل ناسته کې چې د ۲۰۱۲ کال د جنوری په میاشت کې دایر شوي و، هوکړه وکړل چې د انرژې انتقال او مرکزې اسیا د افغانستان او پاکستان سره ونښلوي د همکاری د پیاوړتیا لپاره د لار نخښې په اړوند زمانی چوکاټ ترتیب کړي.

- د هیوادونو د مشرانو په غونډه کې چې د ۲۰۱۱ کال د جون په میاشت په تهران کې جوړ شوی و، د افغانستان، پاکستان او ایران ولسمشران د مخدره توکو په وړاندی مبارزه د تروریزم په وړاندي ګډې هڅې او همدارنګه د سیاسي، امنیتي، اقتصادی او کلتوری همکاری د پیاوړتیا په اړوند یوه ګډه اعلامیه صادر او لاسلیک کړل.

- د ۲۰۱۲ کال د جنوری په میاشت کې د افغانستان او ایران اسلامی جمهوریتونه په ګمرکاتو ، بانکدارې او د بیمې سکتورونو او د قاچاق په وړاندي تدبیرونو کې د همکاري د پیاوړتیا په اړوند د پوهاوي یاددښت لاسلیک کړل.

- د ۲۰۱۱ کال د سپتمبر په میاشت کې د افغانستان او قزاقستان د دوو هیوادونو تر منځ د سوداګرۍ د ودې په اړوند تړون لاسلیک کړل.

- د افغانستان – تاجکستان د انرژی پله، د برېښنا د انتقال یوه لیکه چې د تاجکستان د سنګتوده د اوبو د برېښنا بند د افغانستاند بغلان ولایت سره نښلوي، د اکتوبر په میاشت کې پرانیستل شو.

| | |
|---|---|
| | • د ۲۰۱۲ کال د جنوری په میاشت کې د افغانستان قرغزستان او تاجکستان هیوادونو تر منځ دري اړخیزه ناسته د تاجکستان مرکز دوشنبه کې جوړه شوه تر څو د مخدره توکو په وړاندې مبارزه تنظیم، پر وخت اطلاعات تبدیل او حرفوي کارپوهان وروزي. |

اووم. د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې تر منځ مشارکت

**معیار: د افغانانو د همغږی کارې چوکات تر مشري لاندي د افغانانو د لومړیتوبونو څخه د نړیوالې ټولنې معقول ملاتړ**

| د پرمختګ شاخصونه | مټریکسونه |
|---|---|
| د افغانستان د ملي پراختیا ستراتیژي او د حکومت د لومړیتوبونو سره موافق د مرستو سلنه زیات شوی | • حکومت د نازک حالت د دولتونو سره د نوی تعامل تصویب اعلان کړ، چې د دوی د مرستو د مدیریت لپاره د نوی کاری چوکاټ په ډول د مرستو د اغیزمنتوب په څلورم لوړي کچې نهاد کې تایید شو. |
| | • د حکومت له خوا د مرستو د مدیریت پالیسې تر کتنې لاندي دی، چې د بُن او بوسان د کنفرانسونو د پایلو او د موجوده پرمختګ او د مرستو د چاپېریال سره همرنګه کړي. |
| | • د پرمختګ د همکارې ډیالوګ، د ډونرانو او د مالیي وزارت تر منځه کلنې ناسته چې په هغه کې د تمویل په انکشاف او د کلیدي لومړیتوبو په مطابقت باندي هوکړه، د ۲۰۱۲ کال د مارچ په میاشت کې پیل کیږي. |
| د حکومت او د نړیوالې ټولنې په استازیتوب په تدارکاتو او قراردادونو کې حسابورکونه زیات شوي | • د ملې امنیت شورا د دفتر د قراردادنو د کاري ډلې سپارښتونې د ولسمشر دفتر ته استول شوي دي. |
| د کابل د پروسې د ملاتړ او د افغان د لومړیتوبونو او د متقابل ژمنې د پرله پسې پرمختګ او بیا کتنې د یوي وسیلې په ډول، د څارنې او همغږي د ګډ بورد پیاوړي کول | • وروسته د نوښتونو، د ساري په ډول د ملې لومړیتوب پروګرامونو تایید او پر هغه باندې هوکړه، د څارنې او همغږي ګډ بورد په افغانستان کې د کلیدی پورته کچې د همغږي میکانیزم په ډول بیا تایید شو. |

اتم. د مخدره توکو سره مبارزه

**معیار:  د کوکنارو کښت، د مخدره توکو تولید او د روږدې کیدو میزان کې کمښت**

| شاخصونه | متریکسونه |
|---|---|
| د کوکنارو کښت، د مخدرو توکو تولید او د روږدې کیدو په کچه کې کمښت | • په ۲۰۱۱ کال کې د افغانستان د کوکنارو د کښت اندازه ۱۳۱۰۰۰ هکتاره څمکه وه چې د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۷ سلنه زیاتوالي ښيي. د دې جمعې څخه ۷۸ سلنه کښت د هیواد په سهیل د دایکندې هلمند، کندهار، اروزګان او د زابل په ولایتونو او ۱۷ سلنه د هیواد په لویدځ د فراه، نیمروز او بادغیس په ولایتونو کې کرل شوي وو.<br><br>• د کوکنارو د کښت څخه خالې ولایتونو شمېر کې هم کمښت راغلی، چې په ۲۰۱۰ کال ۲۰ ولایتونه وو خو په ۲۰۱۱ کال کې ۱۷ ولایتونو ته را ټیټ شول چې د فاریاب، بغلان او کاپیسا ولایتونه د کوکنارو د کښت خالې ولایتونو د لسټ څخه وایستل شول.<br><br>• تمه کیږي چې د تریاکو د تولید اندازه ۵۸۰۰ ټنه وي، چې د ۲۰۱۰ کال د تولید په پرتله، ۳۶۰۰ ټن، ۶۱ سلنه زیاتوالي ښيي.<br><br>• په مخدره توکو د روږدي کسانو تداوی لړ زیات شوي او د معالجې لپاره بیلابیل لاری شتون لري، چې په هغه کې د معالجې وروسته مراقبتونه او په ټولنو کې د روزانه خدمتونه شامل دې.<br><br>• د حکومت د مخدره توکو د تقاضا د کمولو پالیسې او همدارنګه ایدز/اچ آی وي د مخنیوي او مراقبت پالیسي بشپړ شوي چې د روږدې کیدو مخ پر وده کچه او هیواد ته د هغو سره تړلي زیانونو ته رسیدګې وکړي. |
| د ممانعت او د قاچاق پر ضد د اغیزمنو هڅو زیاتول | • په ۲۰۱۱ کال کې د مخدره توکو سره د مبارزې پولیس ۱۸۰۷ عملیاتونه ترسره کړي چې له امله یې ۵۲۸۳۹ کیلو ګرام تریاک، ۳۲۷۹۳ کیلو ګرام هیرویین، ۵۷۹۶۸ کیلو ګرام چرس، ۲۹۳۷۴ کیلو ګرام مورفین او ۱۱۲۲۳۷ کیلو ګرام پیش نیازه کیمیاوي ماده کشف او ضبط شوي دې. ټولټال ۹۶۳ مظنون کسان، د ۷ بهرنې اتباعو په ګډون نیول شوي دې.<br><br>• د TARCET III (د مخدره توکو په وړاندي د سیمه ییز اړیکې، تخصص او روزنې نوښت) د عملیاتو تر نامه لاندي، افغانې څواکونه وکولای شوای په علمیات کې د شریکو نورو سیمه ییز هیوادونو په پر تله، ډیر |

| | |
|---|---|
| | زیات اندازه پیش نیاز کیمیاوي ماده کشف او ضبط کړي. په دغه کې ۲۳۰۰۰ کیلو ګرام استیک انهایدراید (په دري قضیو کې) چې یو ستر بریالیتوب دی، چې د یو نړیوال سرحد څخه افغانستان ته داخلیده نیول شوي او دغه کار د اصلي سرچینې د پیدا کولو لپاره د تحقیقاتو پیلول ممکنه وي. د ایران اسلامي جمهوریت او د تاجکستان هیواد هم راپور ورکړې چې، په ترتیب سره، ۱۳۳۰ کیلوګرام او ۴۰۴ کیلو ګرام استیک انهایدراید نیولي دي. د دغه عملیات په لړ کې ۱۹۰۰۰ کیلوګرام نور کیمیاوي مواد هم تر لاسه شوي دي. |
| د مشروع کرهني زیاتوالی او په هغو سیمو کې چې مخکې پکې د کوکنارو کښت کیده اړوند خصوصي پانګونه | • د څارنې او همغږی په ګډ بورد کې د مخدره توکو په وړاندي د مبارزې د څارنې میکانیزم بیا چاڼ شوي تر څو د مشروع کرهنې زیاتول او او اړوند خصوصی پانګونه، د ملي لومړیتوب د پروګرامونو په کارې چوکاټ کې دننه، اندازه کړي. |

---